مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند دوکتورم.ا. زیار

۲۰۱۸/۱۲/۲۷

# دویم – پړک

# وییرغاونیزې پایلې

## (پسوندهای واژه ساز Wordformational endings)

## ړومبی- پړوکی

## کړنوم – بېلبنتي پایلې (پسوندهای مشتقات فعلی)

## Deverbative endings

**[د تېر اکتوبر پر ۱۱مه مو په لومړۍ برخه کې د پښتوپښويي او بيا ګړپوهې (صرف) دزدکړې اسانه لار د اړوندروستاړويا پايلو پېژندنه ده، دادی، په دويمه برخه کې دوييرغاونې (ساختار لغوي) پايلې هم د دې لپاره وړا ندې کوو چې زدکړوال اوليکوال ترې دپښتو د دغې دويمې اړينې تيوريکي اړخ په لنډه او اسانه زدکړه کې پوره ګټه اخېستای شي. که څه هم د دغو پايلو شمېره تر (صرفی) هغو څو برابره زياته ده خو هومره پېچلې او بېقاعدې نه ده. نن سبا ژبپوهان او ژب-تو لنپوهان تر پښويي (ګرامره) هم د ژبې هست ونيست له وييپانګې (Vocabulary) سره غوټه کوي، ځکه ورځ تربلې دنويو علمي-تخنيکي جاجو نو (مفاهيمو) يو (نوح) وزمه ځپان ( توپان) رابهاند دی او يوازې هماغه دودیالې ليکنۍ ژبې ځنې رابچېدای او پايېدای شی چې د پورپانګې ترځنګ خپل درېګونې (زړه-ګړدودي-نوې) پانګه هم ورسر هم پرکار واچوی!]**

دويم-پړک

وييرغاونيزې پايلې

(پسوندهای واژه ساز Wordformational endings)

ړومبی- پړوکی

کړنوم-بېلبنتي پايلې (پسوندهای مشتقات فعلی)

Deverbative endings

دا هغه پايلې دي چې په کړرينبي اوکړستې پورې نښلي اوکړنومونه (dever-batives) رغوي،ياني د وييرغاونې په لړکې دا وييپانګه له کړ(فعل) څخه رامنځته کېږي ؛ چې د دوديزې ليدتوګې او نومونپوهنې پرخلاف تر (مصدر)او (حاصل مصدر)،(صفت فاعلي)او (صفت مفعولي) پورې درست کړ بېلنګونه (مشتقات) رانغاړي.
دادی،د بېلګې په توګه د (خوړل) کړ له دوه غبرګو رينبو (خوړ-) او (خور-) سره رغېدلي(۳۷) بېلنګونه له اړوندوپايلو سره له پق(پښتوقاموس) راخلو چې لومړۍ يې تېرمهالې ريښه بلل کېږي او دو يمه وسمهالې؛ که څه هم له تاريخي پلوه داهم ړو مبۍ (خور-) وه او د (-ر) له غبرګژبۍ(-ړ) سره يې مهاليز اړخ هم بدل شوی دی. [وييپوهنه -۱۰۱ ۱۱۵]
لومړی: له تېرمهالې ستې(خوړ-xoṛ) سره چې له ټوليزې قاعدې سره سم يې اړوندبېلبنتي نومُونه تر ډېره زوَر (-a-)له خوړ-رينبې سره دترخپلواک په توګه بېلابېل کړنومستې له بېلابېلو پايلو سره نښلوي،لکه په لاندې ډول:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱) خوړ+ل= خوړل (خوردن) -ناپای (مصدر)،د منځ خپلواک (a)او ترخپلواک (∂)په ملتیا،له (-ل) پایلې سره؛ناپای (infinitive) د یوه تخنیکي ترم په توګه د یوه کړن،چار(فنکشن) ناپایواله راښیي او دګردان شوي کړ(finitive) پرخلاف یې، نه یوازې مهال،بلکې نور بېلابېل اوړوني اړخونه او تولۍ یې چارومانا‌هم نه را لنډوي (محدودوي)،خو دغه تولې ګرداني بڼې د سړي ذهن ته رابولي یا تدا عي کوي- له همدې کبله ناپای(مصدر) د یوه کړنوم (deverbative) په توګه د نورو هغو غوندې له کړرېښې یا ستې (خوړ-) څنې رغول کېږي، نه د دویزوا لو په ګروهه د ګردو اوړوني او بېلښتي بڼو دکوم بنسټ په توګه؛ په همدې دک و دلیل موږ (کړنومی) نومولی دی [د لا زیات پوهاوي لپاره: ۳-پښویه۱۵۱-۱۴۸]؛

هسې خو(ناپای) پر (-ل) سربېره،(-ن)، (-نګ)،(-نه)، انه (-)-ون (-un)،-ونه (-a-w∂na)... پایلې هم د ناپای کړ یا ناوړني کړ جاج ښندي. په دې توګه دا روسته او وه واړه کړنومونه د ناپای (مصدر) په ګډون ورته ناپایه کړن یا چاراو جاج ومانا ښندي، نو متې دغلته دودیز ترم (خاصل مصدر او مصدرونه) پر سول برابر را ځي؛

۲) خوړ+ن= خوړن، چې د سوېل لویدیز (-نګ) پر وړاندې،یو شمالختیز څېل دی؛

۳) خوړ+نګ= خوړنګ چې د (-ن) پایلې سوېل لوېدیز انډول دی؛

۴) خوړ+نه= خوړنه؛

۵) خوړ+ونه (-w∂na)=خوړونه؛

۵) خوړ+ون (-un) = خوړون بیاهم د پارسي (خوردن؛ خوراک) په مانا‌و دی.

۶) خوَړ+انه ( -āna) =خوړانه چې د پاسنیو پړواړو کړنومونو یو ښنده او ډېر ښت راښیي،لکه چې وایي: زاړه او واړه ګرده ورځ همدا خوړانه کوي، له دې نا خبره چې څوک ورته دومره پخلانه او لوښي مینځانه... وکړي (د محبوب سنګر د خور سکینې له خولې)؛

۷) خوړ+ښت=خوړښت چې تر څنګ یې (خورښت) ګړدودي څېل هم مخې ته راځي؛

۸) خوړ+ منځونج = خواړه، چې له (صرفي) پلوه یو غونډ (اسم جمع) دی او له مانیز پلوه د (۷) په څېر ښنده او ډېرښت راښیي چې ترسروونکی یې هم یوګړی کېدای شي،لکه: زمر خواړه کوي او هم ډېرګړی، لکه: زمر او لمر خواړه کوي؛

۹) خوَړ+ونی = خوړونی(خورنده)،چې لړوډېر د(خوړونکی) د همماڼیز په توګه د وسمهالکړ ستاینوم او بیا تر ډېره چارنومیز جاج راڅرګندوي، هغه هم له ښندیز جاج سره، لکه: خوړونی سپی چې لا ښندیز څېل یې خروړی سپی دی؛ د پارسي پسیف کړنوم (خوردنی) پر بېلګه په نومبېلښتي پایله (-نی) له پښتو تېرمهالي (خوړ-) کړستې څخه بېچار (پاسیف) کړنوم (خوړنی) هم رادودولای او هم لړوډېر تولیزولای شو، لکه: کرنی (کشتنی، زراعتی)،څښنی (نوشیدنی)، ؛ پق اونی ōnay) له اوړد-و سره له ویل کړبنسټ څخه بیا د ورته بېلګو اکتیف انډول هم راخوندي کړی دی؛ورله مخه (-وني) پایله که له چاروالو لېړندوکړونو څخه چار وال نومبېلنګونه رغوي، خو له نالېړندو چاروال او له مرستیالکړونو څخه بېچار کړنوم بېلنګونه رامنځته کوي،نالېړند،لکه: تلونی د(تلونکی) ترڅنګ د(رفتنی)، راتلونی د (تلونکي) ترڅنګ د (آمدنی) په مانا؛ همداسې رسیدونی (رسیدنی)، شلېدونی (ګسستنی)...درواخله؛ له مرستیالکړونو، لکه: کېدونی د (کېدونکی) ترڅنګ د (احتمالی) او شونی (شدنی،امکان پذیر، ممکن) په مانا او داسې نور.

شړونی(تبعید شوی) بیاد سوات خواته ←کړی ستاینوم (مفعولي صفت) راځي!

۱۰) خوَړ+ونکی=خوړونکی، چې وسمهالکړ ستاینوم (فاعلي صفت present particip) بلل کېږي، خو تر ډېره د← چارنوم نقش پرغاړه اخلي،لکه ښوونکی، څېړونکی، اوبدونکی، لیکونکی...؛

۱۱) خوَړ+لی= خوړلی (خورده)یا passive particip بېچار کړستاینوم چې د برابرۍ (تصادف)له مخې دودیز عربي ژباړلی انډول ((صفت مفعولی)) نومَونه ورسره اړخ لګوي،د دېوید مېکنزي (←۵۲) له څرګندونې داجاج اخېستای شو چې دغه بېچار کړستاینوم د لرغوني هندواروپایي (perfect passive parti- ciple) استا زي کوي (لکه: تللی،راغلی،کښلی،څېړلی...)،څکه اړوند (-ل-)که په ناپای یا (مصدر)، بېچارکړ او همداراز بشپړ تېرمهال او لنډتېرمهال کې راڅرګندېږي، د لرغو نې (-ته) پاتوړې (میراث) نومېرل کېږي؛

پارسي چې د نورو لوېدیزو آریاني ژبو غوندې د پښتو پرخلاف له غړ. پوهیز پلوه ځانساتې ده،هغه (-ته) پایله د غړن څېل (-د) ترڅنګ هم په ناپای (مصدر)،تېر مهال او وسمهال او هم (صفت مفعولي) کې لا تراوسه ژوندۍ ساتلې،لکه په (ګفتن،رفتن،خفتن،ګشتن...)او بیا په اړو ند بېچارستاینوم (ګفته،رفته،خفته، ګشته...) کې او همداسې یې (-د) هم دروا خله،لکه په(خندیدن،ګرو یدن،خوردن ،نوشیدن،...)او(خنده، ګرویده،نو شیده، خورده...)کې؛

هرګوره، په تېرمهال او ناتېرمهال کړاوړون کې هم د بېچارکړ دنده پرځای کوي، چې د پېښور خواته د پایلې له غورځن پرته هغسې سمت پاتې دی،لکه په وخوړ لی شو،خوړلی کېده، خوړلی کېږي، وبه خوړلی شي...کې او موږ بره خواپه کره لیکنۍ پښتو کې لړترلړه د کندهار او ننګرهار ګړدود په لاسوند دغه غورځن اړین ارزولی دی، لکه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په وخوړل شو، خوړل کېده، خوړل کېږي، وبه خوړل شي... کې او همداسې نورې ورته بېلګې درواخله، لکه: پرانېستل-،څښل-،پوهول-بدل-،غورځول-بدل-...؛
۱۲) خوَړ+ه =خوړه (هغه چې په غم وښادۍ کې خوړل کېږي؛مواجب یا معاش اعزا زی ومستمری)،د نورو همله‍ړو نومونو غونډې منځخپلواک او پای خپلواک a- را خلي؛
۱۳) خوَړ+ه = خوَړه؛ṛa xwá(پسته او شګلنه ځمکه؛ ګل و لای سیلاب) چې له پاس څخه یې لنډ-و او پایخج توپیروي، ( خوَړکه) یې دغلته هم هممانیزه ده؛
۱۴) خوړ+ین=خوړینxwṛin (بسیار پخته،شاریده) چې د یوه کړستاینوم په توګه له پخکړو خوراکتو او مېوو سره راځي او په اړولې(مجازي) مانا د (زخم، زړه...) او ان وګړو تاکندوی کېږي چې د ښندې اوتینګار لپاره ورسره مهمل (-پړین) ملتیا کوي؛
۱۵) خوړ+ګه =خوړګه چې (پق۴۵۱) له لنډ- و سره د ( زمین نرم و شنزار:ګل ولای سیلاب ؛کالا و پوشاک پوسیده) په مانا راخېستی. یا خړه او (خوَړه) لکه (لوَړه) یې په لومړی او دویمې ماناکې ورسره هممانیز کړې ؛ ښایي، خوَړ (توی،رود) هم ورسره همآری اوسي؛
۱۶) خوَړ+ې=خوَړې، چې داهم نوموړي سیند له لنډ-و او پیل خچ سره (بوتهٔ (مسهل) مانا کړی او له پایخج سره (خوَړه) یې په ورته ماناهم راخېستی دی؛
۱۷) له اوږد-و سره، (خوړ) د (آماده، کمربسته) په مانا، خو چې د څو نورو همر ېینه کړنومونو غونډې پایله نه لري، نو زموږ له سکالو سره اړخ نه لګوي.
۱۸) خوَړ+جن =خَوړجن (بدرنګ، بدشکل،بدقواره) هم ښایي، زموږ له ورته کړ لړیَ سره سمون ولري؛
۱۹) خوړه+مار(پرخور؛ رشوه خوار) یاخورنده.
۲۰)خوړ+سکه=خوړسکه (دود کثیف؛بوی بد، تعفن) چې پق یې څو هممانیزونه (غوړسکه، غړوسکه... ) نورهم راخېستي، هم کېدای شي، زموږ له موخې سره تړاو ولري؛

دویم: له وسمهالې ستې خور- سره کړنومونه:

که څه هم پق د دواړو ستو نومېلنګونه (مشتقات) سره د بېلابېلو ګړدو دي ځېلونو پر بنسټ اخښلي راخښلي دي، خو ما ته د شمال ختیځ هغه ځکه کره وبرېښېد، هغه هم په دې لاسوند چې د بېځایه دوبلکېټ (دوه ګرایی، بیاځلتیا) له مخنیوي سره دکره والي له دوه بنسټیزآرونو (پښو بیز-رغاونیزیورنګوالي او وییز رنګارنګوالي) څخه لومړی دا راسمبال کړ. د بېلګې په توګه مو لېږند چارکړ (صناعي یاکوزاتیف فعل) آر تاریخي خورول) ترڅنګ (خوَړول) له اړوندو بېلنګو نو سره له پامه وغورځاوه-پښتود سوېل لوېدیزو خپلوانو،لکه پارسي ژبې چې په پر لپېیلې (منظمه) توګه هره کړسته د(-اندن) په روستاړی کوزاتیف کولای شي: [ خور+اندن =خوراندن]، یوازې دوه ورته کړونه (وییول: څوک غړول، پر خبرو راو ستل:ګویاندن) او همدا(خورول: پرچایو څه خوړل) لري-که نه هسې خو تول کړونه یا کړ ستې د وییکو په مټ و ملتیاپه ورځنیو خبرو اتروکې پرکوزاتیف کړ اړول کېدای شي،لکه چې وایو: (پر) زمرمې ډوډیَ وخوړه،چایوې مې (پرې) وڅښلې...
په هر ډول د(خور)کړستې،هغه هم تر ډېره له منځخپلواکونج سره تولیز نومېلنګو نه په لاندې نوملړ کې وړاندې کېږي:
۱) خور+اک =خوراک (xwar-āk) له پارسي (خوراک،غذا، خوردنی) او انګرېزي (eating;meal)انډولونو سره؛
۲) خوَرxwar (آش) چې څرمنې ته ورکول کېږي، له منځخپلواک (-ə-) او بیا ډېر دودی کره (-a -) سره یې پایله صفر ده؛
۳) خور+نده =خورنده (xwárənd-a) (پرخور،بسیارخور) یانې دا پایله د ⟵(-ونی، -ونکی،-آند،ندی،- ندوی،-ی) هغو ورته ښندیز یا ټینګاري جاج ښندي؛
۴) خوَر+ندی= خورندی (پرخور؛میوهٔ رسیده و پخته؛ با معنای مجرد عملی را ګویند که از سوی مرد معززیکه میوهٔ پخته شده را تبرکاٌ بار اول بخورد)، له لو مړیَ مانا سره دا لغمانی متل ښه ترا جوړېږي: نه یې پخپله خوري، نه یېخورندي ته ورکوي؛
۵) خور+ندوی=خورندوی،د نسور (پرخور) مانا ښندي؛
۶) خوَر+ی= خوری (xwaráy) په ورته ښندیزه مانا؛
۷) خوَر+اند= خوراند(xwarānd) چې د عربي (صفت مبالغه) چاج ښندي، یانې تر درستوورته ښندیزو یا ټینګاري همرېښه کړنومونو هم زیات ښندیز را ځي، هغه هم د ( نسور اوډېر خور) ترڅنګ په دویمه مانا (ډېر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بدیخور) هم دود لري، (و)گړنی بېلګې يې، لکه: ژړاند، ځلاند، بهاند،پوهاند(پټپوهاند عالم الغيب)... لا تراوسه ژوندی دود لري او په دې توګه ( خوراند،پوهاند،ویاند، لور اند، سهاند، پېژاند...) بې مخبېلګو نه دي دود شوي؛
۸) خوَر+ ک = خورک (خورش، طرز خوردن)؛
۹) خوَر+ول =خورول (خوراندن(náxwarānd چې پق يې ترڅنګ ناکره (خوړول) هم راخپستی دی؛
۱۰) خوَر+زون= خوَرزون (ماده؛ طبيعت، سرشت) چې (مزاج) مانا ترې هم اخپستل کېدای شي؛ خوَر+ منځ = خورمنځ (طبيعت؛ خواهش) چې دلته هم د پق پرماناوو (مزاج؛ سليقه) هم پرتله کولای يا قياسولای شو ؛
۱۱) خور+من= (اشتها) چې پق يې همماني‌زه (وي) هم راخوندي کړې ده؛
۱۲) خور+منی= (xormanáy)
۱۳) خوَر+ آوی=خوراوی(xwarāwáy)، لکه عربي (تناول) هغه خوراک چې ډېر او ډليز خوړل کېږي؛
۱۴) خرو+مه= خرومه (xromá) د (رزق؛ نفقه = رزمنه) په ماناوو چې موږ يې په ټينګ باور آره بڼه (خورمه) نومېرلې ، لکه داروسته بېلګه چې ورته غږيز ادلون بدلون پکې راغلی دی؛
۱۵) خرو+ړی= خروړی جې له ډېر چيچونکي او داړونکي (سپي) سره راځي؛
۱۶) خور+اړه=خوراړه (ṛa ā xur) د (جذام) په مانا چې زما ګړدودي ځېل (خوړ ونکې) يې همماني‌ز دی...؛
۱۷) خوَر+ڼه = خورڼه xwarə̣na (ګوشت خوره) له -رڼه (rə̣na) پايلې سره چې له خوَر- ستې يا (خوړل) کړ سره داټکلي همريښه کړ (خورڼل-ډل: پر مېږه د يېنده پسه ختل) او همداسې يې له لېرندچارې (صناعي) کړ (خورڼول-خورڼېدل: پرمېږه د يېده پسه ختل-خېژول) څخه له کړېبلنګونو ځنې ګڼل کېږي او نورې بېلګې يې، چاروال او بېچار کړ ستاينومونه،لکه: خورڼوونکی (پرمېږه د يېنده پسه خېژو ونکی) خورڼلېدونکی (پرمېږه ختلی يېنده پسه)-خوَرڼولی(پر مېږه خېژول شوی يېنده پسه) او داسې نور ( پق۴۵۰؛

## دويم-پړوکی

## نومبېلښتي پايلې (پسوندهای اشتقاقی اسمی)

## Nominal derivative endings

هماغسې چې په ((وييپوهنه او وييرغاونه ۴۲-۳۹ ) کې پرې رڼا اچول شوې،د نو رو هندواروپايي او همدارازد ورته اوړوني (متصرفه) سامي ژبو په څېر پښتو وييرغاونه (ساختار واژګانی word formation) دوه رازه وييونه څېږي: بېلنګونه او ترڼګونه (اشتقاقات و ترکيبات)،داسې چې يو بېلنګ (مشتق) له يوه ←ويي سره د يوه ←روستاړي ياپايلې په نښلونه،او يو ترڼګ (ترکيب) د دوه وييونو په ترڼه رامنځته کېږي .
خو داچې زموږ سکالو پر روستاړي،يا په نومېرلې توګه، ((پايله )) او له دې ليده پر ترڼګونو نه، بلکې بېلنګونو راڅرخي،نو په لومړي پړوکي کې مو ړومبۍ برخه (کړنوبېلنګونه) له اړوندو پايلو سره وړاندې کړل او دادی،په دويم دې کې ((آر)) څلورګوني (څيزنوميز،ستاينوميز،شمېرنوميز او نومځريز) بېلنګونه له اړوندو رغندو پايلو سره تر څېړنې اوځيرنې لاندې نيسو؛ آر په دې مانا چې چورليز(محو ري) توکی يې يو نوم يانومسته ده، او پر وړاندې يې دکړنوميز بېلنګ هغه يو کړ يا کړسته (هماغه اخځ۲۰۳-۲۰۱).
بېلابېل نومبېلنګونه هغه هم يوازې له پايلو سره:
وار له مخه د څلور واړو نومونو پر بنسټ څلور ډولونه رانغاړي: (۱) څيزنوم- بېلنګونه مشتقات اسم زات، (۲) ستاينومبېلنګونه، (۳) شمېرنومبېلنګونه او (۴) نومځرببلنګونه؛او بياد جولې،چار او مانا له پلوه پرې ۷ نور ډولونه سرباري کېږي:

### ۱: څيزنوم- بېلنګونه (مشتقات اسمی) او پايلې يې

### Substantival derivational endings

دا دی،دلته له سکالو سره سم، د نورو غوندې هماغه پايلې والا بېلښتي څيزنو مونه له بېلابېلو ډولونو سره د وييپوهنې له درېګونو چاپونو څخه راچا ڼوو. دا هم پوره جوته ده چې څلورګوني نومډولونه (ستاينومونه-شمېرنومونه-نومځري) له څومره بيز،په نورو ټکو،ډېرپېښۍ (بسامد،فرېنکوينسۍ) د بېلنګونو اواړ وندو پايلو له پلوه سره توپيرونه لري: په دې تراوڅيزنومونه لومړی دريځ را خپلوي، ستاينومونه دويم،شمېرنومونه درېيم او نومځري څلورم .
د څيزنومونه د څومروالي او ډېرپېښۍ دريځ په دې لوړ بلل کېږي چې پر (آر) ډول سربېره،نور هغه ګرد نومبېلنګونه رانغاړي چې دايې چورليځ (محور)ګرځي او چې هغه ټول (ناآر)يا(څېرمه) بېلنګونه ورسره په پام کې ونيسو،نو ډولونه يې،تر نورو درو ډولوپه هر راز/، چې ان له ستا ينوميزو هغو هم تېری کوي او ورسره ورسره يې هماغومره پايلې زياتوالی او رنګارنګي مومي چې ټولټال بېلنګونه يې دادي:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

(۱)ځيزنومبېلنگونه،(۲) ستاينومبېلنگونه(۳) ځيزنوم شوي ياما نانومبېلنگونه (مشتقات اسمای مجرد)،(۴) چارنومونه(اشتقاقات اسمی حرفوی)،(۵) اړيکنو مبېلنگونه(مشتقات نسبتی)،(۶) لوښنومبېلنگونه (مشتقات اسمای آله)، (۷)ځا ينومبېلگونه،(۸) مها لنومبېلنگونه او (۹) کوشيننومبېلنگونه (مشتقا ت اسمای مصغر) چي دغلته يو لړ ستاينوميزکوشيننومونه هغه هم پر ځيزنو ميزو بېلنگونو اوړي او پرخپل ځېل وار يي بېلگي وړاندي کېږي.
۲۹۶تر دويم دريم: ۲۰۳←(ويپيوهني او ويبرغاوني – ۲۰۱)

۱: آر ځيزنومبېلنگونه او پايلي يي

آر (اصلي) دامانا چي د دغو نورو ځلورو ناآرو په توپير کوم ځانگړی نوملړ (Nomenclatur) نه راخپلوي، بلکي لکه پخپله اړوند چورليز (محوري) ځيزنو مونه تولنومونه (اسمای عام) پاتي کېږي.←(۲-چاپ ۳؛۲۹۸ -چاپ ۲۱۵) ړومبی- تاريخي ارکاييکي بېلگي يي چي ښايي په نه اټکلېدونکي تېرمهال کي، له دايکرونيکي پلوه له راز راز پايلو او دندو سره د نومېرني وړ وي او پر دغو نا آرو پېنځو ډلو به وېشل کېدلي، لکه واخلي: انارگوسه يا نرگوسه (درخت و دانهٔ انار)، يا نرگوس (انارخورد و ترش؛انارکوهی)، پلوسه،تلوسه،غومبسه، نموسه ( ديواری داخل خانه برای نمود)، پنډوس، پنډوسه يا پنډوسکه(گېږ، توپ)... ؛ ناووس (شاه بالا)کنجوس، چړوس،خړوس، ډبوس،پيوس يا پرپوس...چي عربي پورويی (دېوث) ورسره هم همرنگ (دووس) شوی دی. خو نن سبا يي له سېنکروکي پلوه د ستواو پايلو ترمنځ بريدتاکنه ،هغه هم له څه ناڅه غږيز ادلون بدلون سره، ناشونی برېښي او له دې کبله يې زازو د (آرو ځيزنومبېلگونو په نامه يولړ بېلگي وړاندي کوو:
(۱)-ۍ ()،چي ښځينه ځيزنومونه رغوي او هممهاله ←کوشين-او لوښنومونه.آرې ښځينه ځيزنوميزي بېلگي: مرنۍ (خرقه)،مرکنډۍ : د ورمېږ روستی شمزۍ چي سر ورپوري نښلي)، او پخپله شمزۍ (مهره)، دلی (تودهٔ جواری؛ سوارهٔ گندم و جو...)،ځولۍ (جولی)،کوټنۍ(اتاق خورد،پسخانه)،کو نډۍ،ډۍ يا ډينۍ(توپ دنده؛ دنده کلک)،بېډۍ (بجل)، ناړۍ (آب روی گنده)،پنډۍ،اډۍ يا کوراړۍ ( تراډه وزمه ووړ پتۍ)،مرکو نډۍ او همماتيزه يي مارکونډۍ (خارمغيلان! )، کټۍ (گوسالهٔ گاوميش؛ مصغر کټو، کټوه يا کټوی: ديگ گلی)، ډولۍ اوگټي نوری بيايوڅه کم منگي ښکاري،او لا ښه ترا نومېروړ ې (قابل تشخيص)!
(۱) په-اېمه-امه-مه ( āma,-ema,-ma -): هېښمه (ناڅاپي تپه تياره له توند باد وباران سره) پيلامه (ابتدا؛علامه)،ډمامه (زمين چقور و آبگير؛ هنگامه)، جمامه (ترېک نوعی از شرشم که ازآن روغن ميکشند عين بوتهٔ که در گندمزار ميرويد)؛ ځېرمه،پيارمه،کولمه،زېرمه،ځېرمه (فرعي)،سپلمه (واړه، تول)، ځېږ مه،لېمه، ولمه (رويهٔ کف پيزار و هرچيز)، تغمه (اثر ضرب خمچه و تازيانه بر پو ست بدن)... ؛
(۲) له (-خ،-خه،-وخه)سره بياهم څه ناڅه ارکاييک بېلگونه،لکه:مخ،سخ(بخت)، ترخ (تخرگ)...؛برخه، زخه، رخه،ترخه،پرخه،شمخه،کوټخه (کوټنۍ)،ولخه (دشت و صحرا) ،لاسخه (ذواليد،ملکيت)...؛ تودوخه،سپنډوخه (نوعی توپ بازی)، مو خه،کوخه (کُخ)...؛
(۴)-ښ،-اښ، وښ،-وښه...: وربښ (باد)،خوښ،وښ په زورکيوال-و (زهر)،غاښ يا گاښ (باجوړ)،پرتوگاښ،ناښ(دندان انياب)،سراښ(حريص)،لړماښ (لړمون)، واښ (ريسمان)، خوښ،گواښ،ووښ (بندوپسکی چپلی)،نگوښ(لنگش←نگو ښل)، اوښ،اوښه (اوښکه)...
(۵) له(-يز.-ۍ) پايلو سره هغه رغېدلي ستاينومونه چي د ځيزنوم پر بنسټ يا چور ليځی رغول شوي، لکه: درسته ←درستيز؛ کال← کليز (سالنما،تقويم)... يا د شمېرنوم پر بنسټ چي زياتره با نکنوتونه، هغه هم له لنډ بلونج (بديل)روستاړي (-ۍ) سره نوموي، لکه: لسيز يا لسی، شليز يا شلی، سليز يا سلی،پېنسويزيا پېنځسوی، زريز يا زری...[نوري بېلگي: ويپيوهنه ۲۷۴-۲۷۳] .

۲: د ستاينومبېلنگونو پايلي
پسوندهای مشتقات وصفی
Adjectival derivative endings

ستاينومبېلنگونه (مشتقات وصفی) تر گردو نومبېلنگونو ډېرزيږي او ډېرې دي او له دې سره يي پايلي هم ډېرې او رنگارنگ دي،دک و دليل يي داچي له نورو درو نومډولونواو ستو څخه د بېلابېلو مختاړو او روستاړوياپايلو په مټ رغېد نه مومي. په دې لړ کي هرگوره،هماغه خپلواکپای چورليز (محوری) نومونه يا يې ستې← تر خپلواک، لکه زور او زورکي ته اړتيا لري چي د ويونکيو ډېري له آر سره سم مو لومړی دا کره بللی دی. دلته يي د ويپيوهني پر اخځ له خپلي سکالو سره سم له هماغو پايله والا ستا ينومونو څخه راپيلوو.
لومړی-د ځيزنوم په چورليځی (محوريت):


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

۱)-الف (ā-) او-يايي بلونج ( yā- )،بېلګې: هوسا،خوسا، جليا، بسيا،کسيا (کسکر، ميده)،مليا(ر)،چړيا(سرګرم، مصروف))، دوديا (ربنتين ۷۶قانوندان)، الونيا (تنها!)،شونډا (لب چاک)،کونړا،ړوندا،غونجا او داسې نور له ستاينوميز چورليځ سره.

۲)- ن (an-) چې مخنی زور د اړوندې ځيزنومستې او (-ن) تر منځ دترخپلواک په توګه منځتاړی کيږي،بېلګې:اړخن،اغزن، هډن،غوښن،بېخن(بنيادي)،برسېرن ( سطحی)، پمن (ګرګی؛ساری)،کډن،خاپوړن، خيرن،خنډن، ځنډن،ترن،ترسکن ياترسکونی (نمکين،مليح)،کنجن (طناز)،زنګن (زنګ زده)،برمن (پرشکوه)...؛ شډلې او انګوميزې بېلګې: کړتن،غولن، سوتن،متيازن، ريخن، پسکن،تيزن، ټرتن، غرتن، غرن، ډرن...؛

۳)-ناک، بېلګې:اغېزناک،مينه ناک،کينه ناک،پرغزناک(غضب آلود)،بويناک، زيمناک،نمناک، چلناک، تاوناک (پرحرارت؛ هيجانی، زود خشم)،ترېناک (هو لناک، وحشتناک)، شرمناک يا حياناک، پرتمناک (شکوهمند؛ هيبتناک)، زغمناک،...؛

۴)-نی (a-nay)، بېلګې: کورنی، غرنی، اوسنی، مهالی،پخوانی، مخنی يا مخينی، اوسنی، بيديانی (صحرايی؛ بدوی،اعرابی)، ژمنی، پسرلنی (بهاری)، پژنی يا پژيز (جسمی،جسمانی)،بېړنی (فوری، عاجل)، نوغنی (نشانه دار)، خند نی (خندان؛ مضحک)، خنډنی، ځنډنی،خوبنی (خواب آور)، اوبنی (آبدار؛ مايع) چې له دويم فشار سره (آبدان) کيږي،ګړنی (ګفتاری) ، ليکن (نوشتاری)...؛منګنی (تيرماهی،خزانی) او داسې ځو نور له تړ خپلواک مخکې(-ګ- ) ډېرن بلل کيږي...؛ ډېری ليکوال او رسنوال چې لا هغسې يې له خپلې ګړنۍ پښتو ځخه ((يوې-کره ليکنۍ پښتو)) ته لېوالتياأو پرمختيا نه ده موندلې،د (-نی) پايلې په کارونګ کې تکني کيږي: نه (کالنی: سالانه، ساليانه) او (کلنی: چې وقته) توپيرو لای شي،او نه (ننني: امرو زی،امروزين) او (دننی: درونی، داخلی)، کټ مټ، لکه ونکی-وونکی، (وو: بود) او (ول: بودند)، پرونی (چې د ننني پرخلاف يو (ن) غورځوي)..او داسې نور ډېر! [له زورکيوالي (-ی) سره ←ځيزنومونه رغوي،لکه: کورنی،پسرلنۍ (شعر بهاريه) او بيا لوښنومونه: تودنی،غوږنۍ (آلۀ شنوايی)...]

۵)-من (a-n)، بېلګې: خوږمن، دردمن،خوښمن(خوش؛راضی)،پتمن (شريف، مخاوی يا مخور)،برخمن (سهيم، برخوردار)،سودمن (مفيد)، بريمن (پيروز)، سوبمن (فاتح)، هيلمن،ګيله من،غيرتمن، شتمن،نېستمن،لانجمن...؛ هرګوره: کارمن يا کارمند (مامور)، بريدمن،ډګرمن، ساتنمن... په ←چارنومونو کې راځي؛

۶)-مان، بلګې: ستومان، درېمان (ثالث؛ داور،حَکم) چې له مخې يې پارسي ساز مان (اورګانېزېشن) راپښتوشوی، ان نومکړ يې (سازمانول-بدل) هم؛

۷)-جن،بېلګې: نمجن، وسجن، زيمجن،ويرجن، خجن (فشاردار)،دروغجن، غاليجن يا دروهجن د دروهن (فريبکار تر څنګ، ارمانجن يا ارمانژلی، کرکجن (متنفر)، ګرومجن (پر عقده، عقده يی)،هېرجن (هېرزړی؛ فراموشکار)،نولجن يا غمجن...؛

۸ )-چن، دجن د بلګړ په توګه،بېلګې: ښوره چن (ښوره جن؛شوره زار)، سرېچن، خچن (زمخت)؛ وږيچن (خوشه چين) د وږيځاڼ يا وږيځاند هممانيز، د چارنوم په

۹)-ين (-in) بېلګې: ربنتين (راست، راستين، واقعی) له هممانيزونو (ربنتيا ربنتينی،ربنتونی،ربنتيانو، سره،خاورين،ختين، مسين،ژيړين(برنجی)،غزين (تره خېل: ډېر خوار وډنګر څاروی)چې ننګرهاری انډول يې (غزی)دی او بډمانيز يې (مزی)،وړين، وربښمين،سپېنسين،تارين يا تاري (نخی)، په (بادګين)کې د(-ګ-) ډېرن د خوږغږۍ لپاره راغلی...(هماغه۲۰۹)؛پسينه او مهينه چې له آره له کروکښت سره او په بدله مانا له وګړو او نورو ځيزنومونوسره راځي، د (-ين) بلګړ بلل کېدای شي؛ همداراز په درينګ (سخت؛زمين سخت؛درختان انبوه وجنګل ګونه) يا درينګه (سخت) هم ورته (ډېرن ) راښيي...؛ نويزونه يې: پرتمين (شکو همند، پر شکوه)،اورين (اورنی)، سکر وټين، سرپين (سربی)، لورين يالوراند(مهربان)؛

۱۰)- يانی، چې د (-نی) دبلګړ په توګه تر ډېره اړيکنومونه رغوي،بېلګې: زمريانی يا زمريالی(شيربچه،جوان شير، دلير)، ستوريانی (ستارۀ فيلمی نری)، کوچيانی،پېريانی (جِندی)،غوريانی (ګُل کندم)...؛

۱۱)-ونی،چې يو نيم پر ځيزنوم هم اړوي،بېلګې: مرګونی يا مرګاني (کُشنده؛ مردنی ياقريب الموت)، برغونی ياغبرګولی ( يکی ازتوامين)،ارمونی (حرامی)، بادونی يا والګی (زکام).؛ ياورته ←کړنومونه، لکه: اونی ياويونی (ګوينده)، لړونی يا اورلړونی (آتشکاو)، غبرګونی ياغبرګولی (يکی از توأمين)..؛

۱۲)-لن، هم له هغه راز پايلو څخه ده چې له آره (-ن) ده اومخنی (-ل-) د ډېرن په توګه د خوږغږۍ، کوشينوالي، يا د ټکر د مخنيوي لپاره رامنځته شوی، بېلګې: اوبنلن د اوبنن او اوبنکن تر څنګ، اوبلن (رقيق؛مايع؛آبدار)،زولن (ريمدار)، تېلن ()،څوځلن (حريص)،خوږلن (شيرينک،خوشمزه)،سورلن يا سيورلن (سايه دار)،شګلن يا شګن،ښاخلن، غوښلن يا غوښن، ځګلن...؛

۱۳)-ور (war,-wər -)،بېلګې: زړور،خولور ياژبور،بختور،اوږور،(چارشانه)، هډور(استخوانی)، ږيرور،برېتور، سينه ور،شونډور،غوږور ياغوږو او پيړغو ږی،څانګور (بالدار)،غاښور ياداړور( دندان دراز؛ راکول)، په)،سورور، خېتور، نسور، ګېډور،...؛ سرور (له پارسي سره هممانيز، خو پښتانه يې تش د پاک پېغمبر ستاينوم او بيا پارسي انګېري!)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۱۴)-وُر (-ur)، د پاسنۍ پایلې د یوبلګړ په توګه، بېلګې: رنځور،مزدور،ترور (ترهور)؛ کېدای شي؛ همداسې سمسور (تروتازه،شګوفان) اوخمسور (تیرماه، خزان؛آزاد؛جفت ،همراه) چې ښايي، له آره زاړه تړښتي ستاینومونه، اوبیا سره بډمانیز اوسي!

۱۵)-یز، چې له نا غورځنوړ خپلواکپای ځیزنوم سره بله لنډ-ي د تړبېواک په توګه ورمختاړې کېږي،بېلګې: اړخیز، کاڼیز،لاریز (راهدار)،ورهڼیز یادنده ییز،سیمه ییز-سیمییز، پېړییز،نړییز،اونۍ ییز-اونیز،میره ییز یا میره نۍ-میرنۍ (ورور)؛ نوي رغېدلي ویي اوریز (شنیداری)،وینیز،:اووریز (بیره یی)، پښوییز (ګرامری، دستوری)...چې لنډ لیکدودي ځېلونه یې د یوې- کره پښتو له آرونو ځنې ګڼل کېږي؛

۱۶)-یال،-لی:(و) ګړنۍ مخبېلګې،لکه: پالیال (وفادار)،بختیال،سیال،ویال (تا زه)... یا خبریال چې نن سبایې،لکه مرستیال،چارنومیز نقش راخپل کړی دی؛

(-یال) د(پامیالی، پوهیالی)،توریالی،پېخیالی، ګلالی،ښیالی (قشنګ، زیبا)...) غوندې د پخوانیو بېلنګونو د سرباري غبرګغږونو له غورځن سره نوره پر یوه ډېرزېږې پایله اوښتې ، بېلګې یې،لکه: پامیال،توریال،ننګیال،جنګیال، فر هنګیال،پتیال،برېال،برمیال،زمریال،دودیال (مهذب، متمدن)،هڅیال (کوشا)، پېژنیال..؛سترخوشال پرې یو ښځینه بېلګه (ننتیالۍ)هم ورزیاته کړی ده؛

۱۷) -لنډ-و (-u)،بېلګې: برېتو، نسو،خېتو، ګېډو،بسو یابسنی (قانع)،غوږو، غاړو یا غړاندو (ګردن دراز)،غړانګو(بدآواز)،داړو، چارو (فعال)،ساهو (جاندار، ذیروح؛مرفه؛آزاد،آزاده)...

۱۸)-ي (-i)یا لنډه-ي،داهم پر ستاینونو سربېره اړیکنومونه او چارنومونه هم رغوي،ستاینومیزې بېلګې: ولسي، لاسي (قصدي)، تاواني، اتکلي،ازمېښتي،

لګښتي،بېلښتي (اشتقاقی)،تړښتي (ترکیبی)،تواني (کړ) یاامکاني (فعل)، ډو لي،ټپي،زخمي،مرګاني،ارماني،باوري، بادي،باري،بنډاري (محفل باز)،ځېلي (زلزلی،کله شخ)،چاپي،زیاتي...؛

۱۹) ( زوروالهـ)-ی (-ay)،چې له اړیکنومیزو بېلنګونو سره یوه ګډه پایله ده، بېلګې: لنډی، خنډی،ګوډی،شلی،کجی،ګردی،مندری،ښی،ګڅی،کینی یا چپی،منی (منونکی؛مطیع)،بدی،نېکی،مخی،سېلی یا پلوی،روستی، پلی، کو پی یاچوغی...؛ اړیکنومیزې بېلګې: کابلی،پېښوری، کندهاری،کونړی، کوندو زی، (ا) ورګونی،خوستی،ګردېزی،ورزګانی، زابلی،هېلمندی،بلخی،پامیری،

شو غنی یا شوغنانی،واخی یا واخانی،پراچی، نجراوی، تګاوی...؛

۲۰-وال، داهم د ستاینومونو، اړیکنومونو او چارنومونو ګډه پایله ده،ستاینو میزې بېلګې: کلیوال،انډیوال،پتوال،مینه وال، برخوال، ګډونوال؛ونډه وال (سهیم،سهمدار)،پالوال (پرورنده؛پرهیزګار)، پانګوال، ځمکوال، هټیوال، کړ وال، نوموال، چاروال...؛

۲۱) -اړ (-āṛ)، یوه زړه ستاینومیزه پایله ده، لکه: لتاړ،ویجاړ، لواړ(درشت،جو کوب)،لکه ورغستلي(دلده)، پواړ چې د (نامرتب، تنبل)،په مانا زیاتره د ښځې لپاره (پواړه) راځي او بله ګړدودي جوړه یې (پووړ-پووړه) ، سخواړ (بینی پهن، بینی پچق)،چختاړ یا چختاڼ (شفتر،شار یده)، سختاړ (برنج ملا یم پخته شده و باهم مخلوط شده؛ نوعی لیتی؛ هرچیز آبګین و باهم آمیخته)،بګاړ یا ناتار ( نان ودوغ)...؛ پیواړ د اریوب- کورمې غرنی-ځنګلي برید چې له انګرېز سره د پښتنو یو نامي ویاړلی او ګټلی جنګ ډګر بلل شوی دی...؛ دغه ګردې بېلګې د ←نو مکړ ونو په تو ګه اوړون مومي؛له ورغستلي پرته چې د(رغستل) تېرمهالی ستا ینوم دی.

۲۲)-تو (-tu) چې تورک- مغولي برېښي، بېلګې: نامي،نامتو (نومور، نومیا لی)،چمتو؛ برجستو (فساد پیشه) پر چارنومو اوښتي، لکه: جرګه تو،( جرګتو (جرګاوو،جرګه مار) -جرګه هم تورکمغولي ده خو رغاونې یې پښتو دي؛ (منتو)...؛ یا جغتو،تو تو (!) او بل کوم ځاینوم یې بیا یومخیز پور وییونه بلل کېږي؛

۲۳)- پاری ، چې د یو لړ نورو غوندې هندي آری یا هم انډول برېښي، بېلګې: لنډپاری (ابن الوقت،اپورچونیست)، بېپار-ی (مشتری دایمی) بیا پر چارنوم اوښتی دی

۲۴)-بل، چې له آره (پل) دی او له (روستنبال،روستېبل، اوسترېبل) له روستني (پسین،عقب) ماناسره ستاینومونه او ژبپوهنیزې نومونې رغوي او نورې بېلګو یې چې ډاکتر پالوال او مايې له مخې پښوییز وییکي رغولي، لکه: سربل (سر ینه)،اوستربل یا وستربل (پسینه) او غبرګبل (سرینه+ پسینه) یا (ambi- position)... نورې لوښنومیزه بېلګه ، لکه: درېبل (سه پایه)← ورته بېلګې ( ۳-وییپوهنه۲۱۶) او اړوند لیکلړونه؛

۲۵)- اوڼ (-āwáṇ)،د پسکاوڼ، تیزاوڼ یا چونګاوڼ (ګوزوک)، متراوڼ یا متیازن (شاشوک؛ بی نظافت)...د ستاینومیزو بېلګو تر څنګ ځیز(چار-او لوښن) نومونه هم رغوي، لکه: غورځاوڼ (غورځنګ وال؛ جنبشګر و عضوِ جنبش)؛ شلاوڼ (تاو ان شریکی)،شلومباوڼ یا شړومباوڼ ( خریطهٔ چکه برای ساختن قروت)،سینګاوڼ (سُکان کشتی یابادبان ؛پارو یاچپهٔ کشتی و جاله)...( هماغه ۲۱۷)؛

۲۶)- تاړی،-ټاری،بېلګې:خوشاتاړی (یله ګرد) له خوشاټاری هممانیز سره،جنو تاړی یا جنوټاری (بچهٔ دخترنما)...ستاینوم شو ټاری؛ ځیزنومشوی روستاړی یا پیاړمه (دُمچی،پاردُم)،د ماناونجي (سېمانتېزم) په توګه د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

پسونداسفېکس لپا ره رادود شوی او بيايي پرتلويي: مختاړی ( پر ېفېکس،پيشوند) او منځتاړی (اېنفېکس، ميانوند)، او ان تاړی (افېکس،وند) درواخله؛

۳: پر ځيزنومېلنګو اوښتي ستاينومونه-يا
مانانومبېلنګونه اوپايلي يي
(پسوندهای اسمای مشتق مجرد)
The endings 0f Substantivised Adjectives
Or: Abstract Nouns

ستړی،ستړيا،سترتيا،تنګه، تنګسيا،تنګسه،توده،سره درنه،سپکه
ميرانه،سپيتانه،سپينتان، پښتونواله، پښتونولي،لړی،ډېری،
تګي،درغلي،خېښي،خپلوي،لويي،ستروي...
د پايلو په تړاو تر ستاينومبېلنګونو (مشتقات وصفی) روسته د نومبېلنګونو دا ډله ځکه تر شنني لاندي نيسو چي د چار ومانا له پلوه ورسره تر نورو بېلښتي (اشتقاقي) ډلو ډېر نژدېوالی لري او تر بشپړ بريده تړي له ځانګړو پايلو سره را زېږېدلي او له همدې کبله (ځيزنوم شوي)، او بيا (پرمانانومونواوښتي) بېلنګونه بلل کېږي.په دي کي هم څه اړنګ برنګ نشته چي ډېری ستاينومونه هم پرخپل وار له ځيزنومونوآره اخلي،د چاخبره دغلته يودوراني (سرکل) بهير ترسره کېږي، لکه: کور←کورنی←کورنی؛پسرلی←پسرلنی←پسرلنی (بهاريه)؛مهال← مها لنی← مهالنی (نشريه-نشرات موقوته)؛ کال← کالنی ←کالنی (سالنامه)؛ باران ←بارانی← بارانی (پارسي: بارانی) او نور لوښنونه (اسمای آله).
په دي لړ کي ځيني آرستاينومونه له يوې نيمي پايلي،لکه (-يز...) سره بېلښتي بڼه را خپلوي،خو له ځيزنوم چار سره،په نورو ټکو، په همدې موخه رغېدلی بېلنګ ،لکه لند← لنديز؛ بند← بنديز؛ وره بيز ( دورابانو ډله)؛وړاند-وړانديز...
دادی، دلته دمانانومونو اړوندي پايلي ( پسوندهای اسمای مجرد) له بېلګو سره وړاندي کوو.
(۱)-زوَر (-a) او اوږده-ې (-e) له لويه سره د پښتو له خورا ډېرزېږو روستاړو يا پا يلوڅخه ګڼل کېږي. ځکه له دغو دواړو پايلو سره هر ښځينه ستاينوم هممهاله مانا نوميز چار راخپلوي،لکه: ماته (شکست)، بده (بدي)؛ ستړي ستاينومونه پر او(-ی) پای نرينه ستاينومونه هم پر (-زوَر) پای او(-ې) پای ښځينه ستاينوم له اوړېدا سره مانانوميزه پايله راخپلوي، زور-پای بېلګي،لکه: تود-توده، سوړ- سړه، خوږ-خوږه، تريخ- ترخه،وران-ورانه، ودان-ودانه يامات-ماته،،کلک-کلکه، تينګ-تينګه، درون-درنه، سپک-سپکه...؛
له (ی-ې) بدلون سره، لکه: ستړی-ستړي،لوی-لويه... چي جوړه جوړه ترښتي بېلګي بېخي ډېري، لکه: ماته ګوډه، ښه او بده، ماته ګوډه... يا د باچاخان وجيزه (سپوره وي، که پوره په ګډه به يې خورو) او يا درنه سپکه (ويل)، په دي جوړه ګړنو کي: پلانی تل خپله درنه او دبل سپکه وايي، يا پلانی او بستانی چي وزګارشي، خپلي درني او دنورو سپکي راواخلي؛په دي پنديه متل کي: خپله درنه او دبل سپکه ويل سم کار نه دی، د ستر خوشال کوم شعري بيت ورته متل ګرځېدلی: خوشال ختکه، په درنو دروند په سپکو سپکه! او رحمان بابا په يوه بيت کي دواړي ګړني سره په ځومره رنګ و خوند غاړه غړی پيېلي يا (تضمين) کړې دي:

ځوک به سپکه، ځوک درنه راپسي وايي
زه رحمان په درنو دروند، په سپکو سپک يم

(۲) -ي (-i) چي ترډېره له ستاينومونو مانانومونه رارغوي،لکه: ګراني،ارزاني،مرګاني يا مرکندي (مرګونی)، وراني،وداني (په دويمه مانا، عما رت، يا تعمير پژنوميز چار راخپلوي)،تګي،درغلي،دښمني، تربګني،اړي (ضرو رت؛ صر فه)،اړايي (احتياج، نياز مندی)، بدايي، خېښي، ښادي، اساني، يا سوا ني، شا فيف، له انګرېزي، او د دولت لودين له پښتو ژبا ړې سره)؛
(۳)-ی (-ay): لړی،کمی،زياتی،ډېری،بری،سمی،رغی يا پيتل غاب (قاب کم عمق؛ خوداری، چاره= رغېدن)...بېلی ( تميز، بېلتيا، بېلاو،بېلتون ← صميم)؛
(۴)-زورکی (-ə) د ستاينومونو تر خنګ، له يو نيم ځيزنوم سره هم مانانومبېلنګ رغوي: تېره،پخه،لنډه،اوږده،سره (سرخي)...؛ پرځيزنوم اوښتي ستاينوميزې او هممها له ء ډېرګړې بني سره (واړه): د پيني،مړوند،اوږې... واړه هډوکي چي بېځا يه کېږي)؛
(۵)-ی (-yə)،چي له آره په ډېرګړي ښځينه بڼه اړه لري ؛ د ګوټشمېر مانيزو بېلګو په لړ کي يي مړغندی (بې اتفاقي) يو ارکاييک نومبېلنګ برېښي،تر خنګ يي پژ نوميزې بېلګي ← (مرکندی : د ورمېږ روستی شمزۍ چي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

سر ورپورې نښلي) او پخپله شمزی (مهره)، یا مرکونډی او هممانیزه یې مارکو نډۍ (خارمغیلان! ) اوګنې نورې بیایوڅه کم منګې ښکاري،او لا ښه ترا نومېرورې (قابل تشخیص) . مانیزې بېلګې یې،لکه: لړۍ،منځۍ(مرکز)،پلنډۍ د (پلا نډه) تر څنګ د(غېږ نیو نې؛ګُشتی) په مانا،بسۍ (یکی از موهومات)،ایرۍ او نانډرۍ چې (نانډره-نانډرې) یې هممانیزې دي د (جروبحث طعنه آمیز و تمسخر آمیز) په ماناوو، رښتینۍ، رښتمنۍ یا رښتینګۍ (تصفیهٔ حساب، حقیقت جویی،تحقیق)، مو
ندۍاو مرګا نۍ د لوبو نومونو په توګه په ورته لړۍ کې راتلای شي. همداراز پلرګنۍ،خسرګنۍ،ماماګنۍ،مورګنۍ،نیا ګنۍدرواخله!
(۶)-الف ( ā - ) چې لږوډېر د کړمانابېلنګونو او نوم مانا بېلنګونو تر منځ یوګډ رو ستاړی یا پایله ده،کړواله،لکه:زرغا،ځغلا،خندا،ژړا، ګډا، نڅا،رڼا...؛نوموال (ستاینوموال)، لکه: تورا(تهمت، بهتان،افترا)،غلا،ښکلا،سما،زلما...؛
(۷)-یا (yā - ) چې د(-الف) بلګړ، په بله وینا، د الف پرمختیایي بڼه ده او ترډېره په ستاینومونو پورې نښلي، لکه: سترِ-یا،سم-یا،چوپ-یا (چپ-یا)،غل-یا، مل-یا(مل-ا)،بد-یا،تنګ-یا (←نوردره)...؛ بسیا (قانع)،جلیا... هم له ستاینومیز چار سره؛
(۸)-تیا(tyā -)،لکه: مشرتیا،کشرتیا،ځوړتیا،لوړتیا،جوړتیا،روغتیا،رنځور تیا،موړتیا(مړتیا)،زوړتیا(زړتیا)،اړتیا،سترتیا،ستومانتیا،سستیا، ډنګرتیا، خوارتیا،وېښتیا،هېښتیا،اریانتیا،زړورتیا،کمزورتیا،ځواکمنتیا،غښتلتیا،وړتیا،څرګندتیا،جوتیا(جوتتیا)،رښتیا(رښتتیا!)،ا رتیا(ارتتیا)،پراختیا،پرمختیا، خرپړتیا، ړندتیا،کڼتیا؛لېونتیا،مېړنتیا،سپېڅلتیا،پمنتیا، خیرنتیا، ناولتیا، ککړتیا،ګډوډتیا... ؛
(۹)-توب (tob-)، چې له څېزنوم او بیا چارنوم چورلیځ (محور)سره هم ډېر راځي: مشرتوب،کشرتوب،نرتوب،نارینتوب،ښځینه توب،هلکتوب، زلمیتوب، لېو نتوب، پېغلتوب، کونډتوب،بنتوب،بېلتوب (← پېغلتون، کونډتون ...)؛له څیز نوم چورلیځ (محور) سره:سړیتوب، خرتوب، سپیتوب، غویتوب ،غړیتوب، دو بي توب،ډمتوب،ځناورتوب...؛
(۱۰)-تون (tun-)، چې ښکاره بڼه یې له ځاینومپایلې سره همرنګه ده، خو له آرپوهیز پلوه له(-توب،-تان،-تانه) سره همآرې اوهمچارې ده اوښایي له الماني (tum-) اوانګرېزي (dom) سره همآرې اوسي،بېلګې یې: بېلتون،لنګتون،پیوستون(!)،کونډتون، پېغلتون، بنتون؛ په زړه پورې بیا دا چې دغلته یوازې ړومبنۍ درې بېلګې له ستاینومونو څخه رغېدلې او دانورې درې یې له څېزنومونو،او هغه هم له خپلو انو نومونو سره تړاو موندلی دی!
(۱۱)-تانه (āna t-)، د پاسني (-تون) د همچارې او همر یېنه،یابلګړاو یاهم د او ښتې بڼې په توګه مانانومیزه پایله ده،لکه په دې بېلګو کې: کورمانه (منزلداری household)،سپیتانه (بدرفتاری)، تر څنګ یې سپیګتانه د(-ګ-) له ډېرن سره یو کمپیښی ګړدودي ځېل دی، لکه پلواښه او پلګوا ښه)، مېړانه،ښهانه (خوبی، بهتری؛ نیکویی)،ښادیانه (شادیانه)، ګرمانه (جر مانه) ... ؛
(۱۲)-تان ((ān t-) د دوه پاسنیو هغو په لړ کې یوه ورته کمپیښې بېلګه ده چې د د (سپیناوی)یا (سپینتیا) د انډول په توګه دادینخېل (لطیف اپریدي) له لیکلړه مې راخېستې ده.
. (۱۳)-ینه (yina)؛ مړینه، پلرینه،مورینه، کوشینه،وړکینه، کمکینه،هلکینه، زلمینه؛ لورینه)، پلورینه...بیاد څېزنوم په چورلیځۍ رغېدلې او رغول کېږي، خو تر څنګ یې پژنومیز بېلنګونه هم لږو ډېر پېښېږي،لکه بېلابېلې ډوډۍ: نغن،
غنمینه یا غلمینه، وربشینه، جوارینه،نسکینه، وریجینه...؛ د(ینه (yina-) بل مانانومیز بلګړ (الومورف) ینه ((y∂na) له غږپوهیز قانون سره سم له خپلواکپای (ا-و- سره راځي،لکه:هوساینه،براینه (ماحصل،دستآورد)،ګجوېینه نان مخلوط از آرد جو وګندم)،بسیاینه،پوخلاینه، ډاډېینه، وړاندېینه (عرضه، پیشکش، تقد یم)، وړا ندوینه،غوراینه،جلاینه،بډاینه،بوډاینه،لوینه،خوندیینه،پېرزوینه...؛ په لور پېنه، د (لورینه) هممانیز په توګه بیا هم د څېز نومیز او بیا مانانومیز (لَور) بنسټ لري.
(۱۴)-ستیا(styā-)،لکه په مېلمستاکې؛ د (کېناستیا،پرانېستیا،بېکستیا، پیو ستیا، سستیا، نېستیا،بېوستیا...) له اغېز،یا خوږ.غږ.ی د (-س-) ډېرن اتکلېدای شي!
(۱۵)-سیاو-سه، لکه په تنګسیا او تنګسه کې له ورته ماناوو سره؛تلوسه، ګو نګوسه یا ګنګوسه (ګونګوسی)... یې ښایي ورته ارکاییکې بېلګې اوسي!
(۱۶)-ګڼه (gáṇa-)،لکه په ښېګڼه(ښېګړه) کې چې اوس اوس یې له مخې (بدګڼه) دود شوې ده؛ ګڼه (شمېر،شمېره، نمبر، نومره) ورسره همرېښه نه برېښي، بلکې د (ګڼل کړنوم په توګه یوازاد ګړ دی.
(۱۷)-ګني(gani - ) او-ګنۍ (gan∂y-)، که څه هم له تاریخي پلوه ړومبی ځېل آر (و)ګړنی اټکلېږي او دویم دایې داوښتی پېر تراغېز لاندې، هغه هم په لیکنۍ پښتوکې همدا سې ((←غلط مشهور)) رادود شوی اوسي، خو اوس یې دا توپیر ارزښت نه لري اوهمداسې جلا جلا کره بلل کېږي ؛ ځکه پق هم له (دښمني- تر بګني) پرته نورې بېلګې،په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زورکیواله (-ۍ) راخوندي کړې او ان (ابو نصر فراهي څو سوه کاله پخوا په خپل (نصاب الصبيان ۷) کې (پلارګنی) او (نیاګنۍ) کارو لي(۳-وییپوهنه ۲۷۰)،دپق بېلګې: پلرګنی،خسرګنی،ماماګنیچې مورګنی، نیاګنی یې هېرې شوې دي!.

تازه ((غلط مشهوره)) بېلګه ولاړ دی او هغه داچې یو شمېر لیکوال او رسنوال (وداني اوودانۍ) سره نه توپيروي، نو اړوتم،د بي بي سي پښتو خپرونې په لار ښودونو او ټولیزو رسنیو کې د نورو بېلګو ترڅنګ داتېروتنه هم ور ډاګیزه کړم چې ولې ګڼه (افراد و جمع) او پېر (اصلي او مغیره)سره نه توپيروي او یوازې دا روستۍ اوښتې بڼه (ودانۍ) یې داو ښتي او نا وښتي او هممهاله د یوګړي او ډېرګړي لپاره کاروي، لکه چې وايي: اشرف غني د نوي څرخي زندان د ودانۍ ډېره کېښووه، زړه ودانۍ (تعمير) یې د ۴زرو بندیانو لپاره جوړه شوې ده... دواړې ودانۍ (تعميرونه) به متې بس شي!

(۱۸)-وال (wāl-) چې د مانانومیزې پایلې په توګه یې سم له لاسه دا یوه بېلګه (لنګوال) =( لنګون،لنګتون) پر لاس راغله،که نه د ستانومیزې او څیزنومیزې او بیا ←چارنومیزې پایلې په توګه پوره ډېرزېږې ده.

(۱۹) -واله (wāla-) له پیلخج سره ،لکه:پښتونواله،پښتنواله (پښتنګلوي)، مو مندواله،ځاځیوا له،ترکانیواله،ولسواله (رښتین۶۱)،کوشنیواله، هلکواله، هډ واله (تنومندی)...؛ ستر خوشال،نه یوازې (خټکواله)،بلکې (مرییواله) هم رغو لي ،او حمید پسې (مغولواله =دښمني) هم،ان داستاد حمزه (مچواله،سړیواله) هم در واخله،ا و زموږ ور ته پر تلیزې (قیا سی) رغاونې: هېوادواله،ټولنواله (سوسیا لېزم)،پرګنواله (کمو نېزم)...او د ګوهر ډېرکارېدونکی سیاسي نویزی (نیولوجېزم) ټلواله (اېتلاف،کوالېشن).

(۲۰) -والی ((wālay-)،د (-واله) له ورته خج او مانا سره،خو لا ډېرزېږې پایله چې دلته له (۳-وییپوهنې ۲۷۱) یوګوتشمېر بېلګې راخلو: پښتونوالی یا پښتونوا لی، یووالی، کوروالی (جِماع)؛ ګړوالی،مَړوالی (موړوا لی)، سَړوالی،زَړوالی، ړندوالی،کڼوالی،پَخوالی،پَستوالی،رَغوالی...چې ډېر لیکوال یې د ریښې(-و) نه غورځوي! .

(۲۱)-ولي (wali-)، چې د دوه پاسنیو پایلو په ورته کچه مانیز بېلنګونه رغوي:

(۲۲)-ګلوي (g∂lwi-) دا هم له پاسنیو درو پایلو سره همچارې ده،اړوند بېلنګونه یې، لکه: پښتونګلوي (پښتنګلوي)، رښتینګلوي،پووندګلوي (مالداری؛کوچي ګری) ،پېژندګلوي،وروروګلوي،خورګلوي،مورګلوي، پلارګلوي، تربورګلوي، ګاونډګلوي (همسایه داری)... .

(۲۳) -ګلي (g∂li-) او ګلو هم پرخپل وار ګلوي بلګړونه (الومورفونه بلل کېږي.

(۲۴)-وي (wi-)، چې سم له لاسه یې تش درې بېلګې سهي شوې:یوازې خپلوي (خویشاوندی)، ستروي یا لووي (تکبر).

(۲۵)-وَی (way-) په دې بېلګو کې: لووی یا ولویي،ستروی یاستروي (بزرګی، عظمت)، زګېروی یا زګروا (نالش)، سکاروی یا رمی (سینه و بغل یا ګریپ)،

(۲۶)-اوَی (ā wáy-)، بېلګې یې،لکه: درناوی، سپکاوی،ستراوی، لویاوی، غټاوی،بداوی،لوړاوی،ورکاوی...؛ نوې رغاونې: پوهاوی،خپراوی،رغاوی،غوراوی(انتخاب)،پخاوی (پخلی؛ تایید)،نړاوی،څرګنداوی،رڼاوی،بېلاوی،مخاوی (مخا مخی،تقابل)،سماوی... .

(۲۷) -انه (āna -)،بېلګې یې: ټیک+انه= ټیکانه (اجاره؛ وظیفهٔ )، بیانه،کورمانه-á (امور منزل، منزلداری house hold)،مېړانه،ورانه،مشرانه (امتیاز ویژه ی برادر بزرګ درمیراث پدری) ودانه،وړانه،پړانه،ښها نه، شوپیانه (تهمت؛ خجا لت)،ارزانه او ښادیانه (له پارسي سره ګډ)

(۲۸)-ګیر، پارسي آرې پایله اوبېلګه: شوګیر (شبګیر)،برګیر (زکام مواشی)، هواګیر (آرام)، داوه ګیر، زودګیر (غصب)... ؛ ګېر (ger) بیا د (توپ دنده)په مانا د ننګرهار خواته دود لري.

(۲۹)-ګېرنه (ger∂na) پایله له (څیزنوم) چورلیځ سره رغېدلي مانانومبېلنګونه، لکه: ډاډګېرنه یا ډاډپینه (اطمینان)، یادګېرنه (یاددهانی، یادکرد).

(۳۰)-لي،یوه کمپیښې پایله ده، له یوې بېلګې(سپرلي) د (سپرلو) ترڅنګ چې (د چلندوسیلې د سپوریا سرنشین) په دویمه مانا پر پژنوم اوړي، لکه: له اوښتې بېرۍ یوه (سپرلي) ژوندۍ پاتې شوه او نورې سپرلۍ ډوبې او تری تم شوې.

(۳۱)-ؤوښ (wox̌-)،لکه په سړي ؤوښ (سړیتوب؛ انسانیت،آدمیت) یا هوښ کې چې ویښ سره همریښه دی، لکه ویښیار د پارسي(هوشیار انډول په توګه)؛ هرګوره،-ووښه (wṓx̌a-)که ورته جولیزه پایله ده،خو پژنومیز چارومانارانغاړي، لکه. مېړوښه (مړوښه) اوله پایخپلواکونج (-ي) سره مانانومیزه کېږي،لکه په مېړوښي (شوهرداری) کې ،بله بېلګه یې سړوښه (ساړه،سړزوي، سړزي؛سردی) ده.

(۳۱)-ؤخه (w ṓ xa) هم تش یوه بېلګه (تَودوخه) لري چې (تودوخي) یې یو بل ځبل دی او دواړه (ګرمی، حرارت) ماناوې لري او په کره پښتوکې دویم ځبل د (مرکز ګرمی) د انډول په توګه رادود شوې ده. همداسې یې بډمانیز (سړښت، سړ تیا،سړوالی. سرزي...) هم ورسره لړوډېر پرتلېزېږي (قیاسېږي)او(سړوخه) ویل کېږی؛ (موخه) بیا ښایي، له دایکرونیکي پلوه ورته پایله لرلې اوسي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

(۳۲)-وله، بېلګې: ګډوله (آمیزه،میختګی)،بخوله (ناورین،فاجعه)،مخوله یا جګۍ(عذر وزاری، الحاح)...؛
(۳۳)-ت (-at)،-ګرت،-لت...: نږدېکت،بندیګرت، انسانګرت (بېنوا)، خوړلت (بارکوال)... چې عربي پېښې برېښي.
یادښت: لوړه یا ولړه او تنده ښایي، ډېر پخوا له (وړی) او (تږی) څخه رامنځته شوي مانانومونه وي؛ په (مړهی، مړهکه یا مړیکه)کې له (تب دق وسل) مانا سره چې ترېښتي هممانیز یې (مړه خوړ) دی، اړوندې پایلې (-هی،-هکه،-یکه) سپیناوی غواړي[د پوره پوهاوي لپاره: وبیپو هنه۲۹۴-۲۶۵]

۴- دچارنومبېلنګونو پایلې
پسوندهای مشتقات پیشه یی واعتیادی
Nomenagentis-derivative endings
(agentivesuffixes )

ختګر،ژرنده ګړی، غوټور، بورڅانی، غورځاوڼ، ګټیالی،ګوروان، غوبه،اوښبه،خربه یا خربون، اوبی (سقاو)، ښاروال،ولسوال،ډګروال، مرستیال،کارمن یا کارمند، بریدمن، تورن، جګړن، جګړه مار...
یو چار نوموم (نومن ابجنتیس Nomen agentis) د یوه چار یا دندې، په څه ناڅه پرلغښتي کړن و بوختیا-او په ترخ ترخ کې روږدتیا (اعتیاد)، لکه د نشه یي
ښناک وڅکاک_اړوندروستاړی یې هم چارنومیز (agentive suffixes) بلل
کېږي. بشپړ ډېری هم تر مانانومونو روسته، په دویمه کچه له چاروالوکړستو، او له لویه سره له نومونو، په تېره ،(څیزنوم شویو) ستاینومونو او اړوندو ستو څخه د بېلابېلو پایلو په نښلونه رامنځته کېږي [وولریش ۷۹]. د وییکواله بېلګه یې (په) سربل دی چې وستربل (سره) یې په زغردتیا (صراحت) کې مرسته کوي، بېلګې، لکه (په) څمڅۍ له دېګه په کاسه کې وریجې اچوم او (په) څمڅوکۍ (قاشق) یې خورم.
د بېلښتي (اشتقاقی)چارنومونو ترڅنګ ترېښتي (ترکیبي)- لکه د← ټاکنترنګونو په لړ کې،او خینې آریووستوي چارنومونه هم مخې ته راځي، لکه:
غل د (غلاګر) ترڅنګ،موچي د(چمیار)،تر څنګ؛ جولا،میا،ملا، ملنګ،ستانه، پیر،مرید،مشر (رهبر، سرکرده، رئیس)...چې ځینې پکې پورویي او یا زاړه (ارکا ییک) بېلنګونه برېښي. دادی، لومړی یې له کړوالو هغو څخه راپیلوو، په نورو ټکو، له←کړنومونو څخه هماغه لړ. شمېر چارنومونه راچانوو او بیا ډېری نوموال هغه وړاندې کوو.

لومړی: کړوال چارنومونه او پایلې:

۱)-ونکی،وونکی( -nkayÚnkay,wÚ): ښونکی،خوړونکی، پخوونکی ،ښوونکی، زده کوونکی یاد پالوال (زدایند)...؛
۲)-ونی،-وونی (-nay Ú nay,wÚ):وونی (ویند)،منونی،څملوونی(خوابانندە،
خورونی یاخوړوونی (خورانندە)، روونی...؛کړونی،وړونی (برنده؛ بار؛برده بار) ...(وییز برمه ۲۲۲-۶۴)؛ دغه پایله لوښنومیزه هم ده.
۳)-ند(-ه)،یو ډېرزېږی روستاړی یاپایله ده: خورند-ه،ویند-ه،ګرځند-ه،ترهند-ه، کراغند یاکراړند←(کړندی)،ژغورند-ه،بهند-ه،کارند(کارا،فعال)،خوځند (متحر ک)، خځنده (خزنده)، کرکنده یا کراکنده (خرسنګی از کوه فروغلتیده)؛ کراړنده یا کړنده (کج بحث؛ علیل)، کراړنده یا کراغنده (بیماریکه به سبب بدپرهیزی بیما ریش شدت یابد)، کړند (کوونکی- کرکنده،د دویم -ک په زورکي (یو لوړ اغزن بو ټی)؛فاعل)،ښووند (ښوونکی)،زدایند(شاګرد←پالوال)، زېږند-لېږند (ګرامر)...؛ پوونده (مالدار؛ کوچی ) بیا له پخوارا هیسې همدا سې دود شوی دی؛ دپښتو (-ند-ه) پارسي کړنوم انډول په همدایوه بڼه (-نده) دی،لکه خورنده،خزنده، بیننده... که نه، له ګرداني بڼې (-ند) سره یې ټکر راځي، لکه خورند،میخورند،خوردند...؛
په هر ډول پښتو (-مد-ه) او پارسي (-نده) کړنوم پایله له تاریخي-غږ پوهنیز پلوه په دواړو او نورو نژدې لرې خپلوانو ژبو، ان په الماني کې له آره (-ن) زبادېدای شي ،ځکه نن سبا هم ګورو چې په (و) ګړنۍ او ګړ دودي پښتو کې په (-ن) پای نومو نو پورې (-د) یا(-ګ) نښلول کېږي،لکه (چمن-د، درمن-د) یا د زیا ترو ګړد ودو کړنومروستا ړي (-ن) پر وړاندې کندهاری دا(-نګ) ټیکاو لري،لکه: (خوړن)او (خو ړنګ)...،په لیکنۍ پښتو کې بیا ترپارسي (-مند)، (-من) ډېر دود لري،لکه په (درد مند-دردمن-خوړمن، کارمند-کارمن) ...؛ لا سرچپه تر (-د) او (-ګ) مخکې د(-ن) ډېرن (ادېشن) هم لړ و ډېر را منځته کېږي،لکه کندهاری یا منځنی (موړ) چې شما لختیځ خواته لومړی پر (موګ) او بیا پر (مونګ)او هم (زموړ) پر (زمونګ)او ښتی دی! ان پر نړ یوال کچ پر(مګول) د (مغول) له اړونې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره (منگول Mongol) شوی او بیا ترې د ژیړنژاد په مانا (Mongoleid) هم رغېدلی دی. ان تردې چې تر ډېره پورې د کمتوان (Disabled) لپاره هم را دود شوی وو.
۴)-ندی،چې له تاریخي (دایکرونیکي) پلوه د (-ند) یو غځېدلي بڼه ده او (-ندوی) یې هم همداسې درواخله،خوله هرې غځېداسره یې په چارومانا کې یو توندوالی نګېرل کېږي. د ساري په توګه (خورندی) تر (خورند-ه) یوه پوړۍ توندوالی را ښیي او (خورندوی ترې دوې پوړۍ)...د (ندی) بېلګې:
کښندی (کشاورز)،ګرځندی (پر پیلخج: ګردنده،چرخنده،سیار او پر پایخج: کج ګردشی)، غړندی (شورچشم، نظرباز)، ګډندی (رقاص)، بېړندی (سریع، باعجله)، خورندی (خورنده)،لکه: (نه یې پخپله خوري اونه یې خورندي ته ورکوي)،غیندی (ګاینده)،غیندۍ (فاحشه)،...؛زړې بېلګې:ګړندی،کړندی (کج بحث؛علیل) بیا ستا ینومونه راځي،برندی (دوک) او نویزی توغندی (راکېټ) هم لوښنوم (اسم آله)...؛
۵)- ندوی،دا پایله هم د(-ند،-ندی) او نورو ډېرو پایلو غوندې ور له مخه ترخپلو اک ته اړتیا پیداکوي: ویندوی،کرندوی (بزګر)،ګرځندوی (سیاح، توریسټ ؛ اړو نده اداري نومونه)،پوهندوی (ترپوهانددوې پوړۍ راټیټ پوهنتوني استاد)، څېړ ندوی،دپښتو تولنې لوړترین غړی یاسرمحقق)،بولندوی (قوماندان)،څارندوی (سکوت،پولیس)،ساتندوی،پالندوی،ګټندوی،وټندوی یاسپماګر(صرفجو، مقتصد)،ژغورندوی، زېږندوی (ایجادګر، آفرینشګر)، بېړندوی (باعا جله؛ عا جل، امرجنسی)، مرستندوی، خپرندوی، غوټندوی یا غوپه ور (غوطه زن، غو اص)،بلندوی (دعون کننده، داعی)، لېږندوی ( انتقال دهنده)... ؛
۶)- اند (-ānd)، دا پایله ستاینومونو او چارنومونو په تړاو د عربي (صفت مبالغه: فعال) غوندې د یوې ښندې (مبا لغې) ښکارندویي کوي، بېلګې:
ژړاند، رپاند،ځلبلاند، پېژاند (شناسا؛شناخته)، بېلاند یا بېېتونپال (جدایي خواه، سېپراتېست)،نوماند (مشهور ←—مومند) چې له ماناونج (سېمانتېزم) سره پر چارنوم او بیا پر سیاسي نومَونه (کاندید) هم اړول شوی دی،ویاند،بهاند، ()،ځلاند، بلاند،یا د ستاینو په توګه بلانده (دختری نو به بلوغ رسیده)؛ د نویزو نو (نیولوجېزمونو) بېلګې یې پرلپسې پر بره درومي او پر نورنیو نومونو هم او ښتي،لکه: هڅاند، تپاند،ښوواند (آموز ګار)، پوهاند، لولاند (مُدرس)، څېړاند، کښاند(خطاط)، برسېراند(کاشف، کشاف)،روښاند (روشنفکر؛ روشنګر)،رغاند، ژغوراند، درغلاند(شیاد؛ جعلکار)،سهاند( هضم کننده؛صابر، صبار)... هاند، تاند یاتاندوا ند او تاندلبان-د (جوانمرګ)، هم ورته زړې بېلګې برېښي؛ ښاندو لوراند د خدایي ستاینومونو (رحیم و رحمن) لپاره هم دودموندلی دی.

دویم؛ (آر) نوموال چارنومونه:

۱)-ر، لکه باتړ د باټو ترخنګ (لافوک،لافزن)،باټ هم هندي پورویی دی؛ لاتین ، لکه انګرېزي انډول یې (debate) دی؛ په اروپایي خپلوانو ژبو کې (r-) د چار کړنو مبېلنګ د پایلې په توګه پوره دود لري،لکه انګرېزي بېلګه، maker ، الماني(macher) او داسې نورې_ سلاوي (روسي) نامي انډول یې (ربوتر) دی چې نن سبا پر نړیوال کچ (ربوت) ته رالنډ شوی، هغه هم د خپېللاسي اتوماتیک یا ماشیني انسان لپاره!
۲)-ی (-ay,-áy)، بېلګې: کښی (دهقانګ؛ میرآب)،روی (مادرآل؛ شخص حریص و ګستاخ)،نیمی یانیمایي (نصف،مناصفه)،اوبی (سقاو)، ربېځی (جاروکش)، ډا ګی (بچه باز،لوطی)، لَوَی (دروګر)، بالکی (پایډوِ مداری و هممانند)،بانکی یا بانکه (مغروروکاکه)، ډانډسی یاډانډ سي،کوچی،ډانډولی د (ډانډولۍ)یا (ډنګه ډو لۍ) لوبې لوبغا ړی،بدی (بدکار) او نېکی (نیکو کار) هم په چارنومونوکې را تلای شي، (بدی او نېکی) یا (نېکی او بدی) د یو (و)ګړنۍ کیسې لوبغاړي دي.
۳)-ي، بېلګې: تیي د(دیي) ترخنګ د(تي ورکوونکې) یا پارسي (دایه) د انډول په توګه،پنډي یا پلنډي، ډاګي (پسته رسان)،د ملا یا جومات چړي چې چړ (دروېزه کوي)، چلي یا چلباز،بانګي یا بنګېړی (چرګ)،بګاښي (میا نجی، صلحجو)،نرخي (ماهر و داور درامور متنازع فیه، و ارز شهای اجتماعی، شامل قوانین پشتونولی)،بدرګه یي (بدرقه یی)،بدلي، چې بد لې بولي (آوازخو ان) ، چرسي، بنګي،چلمي،نسواري،اپیني یا تریاکي،تبلي، ډانډسي،ټوکي یا ټوکمار،ټوپکي یاټوپکوال (تفنګدار، تفنګ سالار)، بنداري (محفل باز)،چړچه یي،چړچي یاچړچه مار (عیاش وفحاش)،ډا نګیي،چکه چور، غرغره یي یا لنډغر...(بی بندو بار؛ماجرا جو)، ډاګي (پسته رسان)،روښي یاروښه وال(حلوایی)، کبابي، درملي یادر ملګر (معا لج؛طبیب یونا نی)، نایي، ګلابي یا ډم (دُم، دلاک، سلمانی)،بادي (کسیکه خرمن را در جریان باد پاک می کند؛ تفنګ بادی)... ؛
۴)-وَی (-way)، بېلګې:کروی (چاریکار، پیشکار دهقان؛ پاسبان کشت و زرا عت)، لَوَی (دروګر)، ،روی چې دغه درې سره بېلګې په ←—کړنومونو کې راځي؛ لاروی ،چمبی یاچاپه ګر(رنګرېز)... بیا نومبېلنګونه بلل کېږي.
۵)-بون،-به (-bun,-ba) چې دویم ځېل (-به) د لومړي هغه لنډه بڼه ده، په هر ډول له پارسي (-بان) سره همآرې پایله ده،خو پښتو داورسره لړو ډېر بېلابېل کارونځا یونه لري، د ساري په توګه دواړه پښتو انډوله تر ډېره پووندګر او بیا (څاروي څر وونکي) رانغاړي او په نورو برخو کې یې دویم ځېل (-وان) او یاهم (-وال) ځاینا ستی کېږي. د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(-بون،-به) بېلګې: غوبه، غاوچي يا ګوروان (ګله بان، پاده وان)،او ښبه-او ښبون (شتربان،شترچران)،لېربون-به (شبان بره،بره چران)،وزبه (بزچران)، خربون (خرچران)، اسبون (آسپ چران)،ګډبه (شبان رمهٔ ګوسپندان)، شېربون يا زمر بون (شير چران)...؛ (ښرخبون) او (خرښبون ) يې د (سرېن) د دوه ګونو زامنو په تو ګه (←پښتو او پښتا نه...۴۶۸) تر ټولو لرغونې بېلګې دي؛ شپون- شپه (شبان) بيا له آره پسوبانه<پشوپانه<ول (مورګنستيرن)؛ همداسې د ورته پايلې نور کارونځي او بېلګې: کوربه (د مېلمه پال په توګه،)لاربه (بدرقهٔ راه، رهبر)،لرګبه (چوب شکن؛چوب فروش)، خسبه يا بوټبه، (هيزم کش)، ختبه يا ختګر،اوړبه (آرد فروش)، ګوډ به (کاريزکن)...؛

۶)-چي، له پارسي او تورکي سره ګډ، خو اوېستايي (هونريانچو: هنرمند، ماهر) آرياني هم رازبادولا شي،بېلګې: نندارچي (تماشاچي)،غورچي يا غوراډپی (لا فوک)، اتنچي،بګاښچي يا بګاښي(ميانجی و صلحجو)،مرغېچي (نګهبان کشت و رانندهٔ پرده ګان ازآن)،غاوچي (دادخواه؛پاده وان،ګله بان)...(وېيپو هنه۳۰۱)

۷)-ګر،-ګار،-کار،-ګری،-ګرندی،بېلګې:ختګر (ګلکار)،وېشګر (موزع،منقسم)، چچګر يا مسلي ()،پنډولګر (پنبه چين)،لوګر-ی،کرګر، کروندګر، کښتګر،يابز ګر،کارګر يا کاريګر، زرګر،زېريګر يازېريګرندی (مژده رسان)، چاړه ګر،چمګر يا چلې، درغلګر (خدعه کار)، کوډګر (جادوګر،سحرګر(مداری،حقه باز)،پاړوګر يامره يي (مارګير)،بيزوګر (شاديوان)،بزوګر (شبان بز)،اشرګر ياپګړه يي (حشر ګر)،ملازګر ياخوشامند ګر (چاپلوس)، ښېوه ګر (طناز)،چوغلګر، غلاګر يا غل، دروېزګر، بسپنغاړی يا سوالګر (سايل، ګدا،ګدايي ګر)، کچګر (پيمايشګر؛ نقشه کش؛جريب کش)،خوالګر (همراز)؛ ګرګر (ظالم)؛ له غبرګغږ ډېرن سره، لکه ملګری،وارګری، ، غاړه ګری يا پلويځ (پلوان شريک دمګری)،څوګری لاسګری (دستيار)...؛شلګری (نيزه ساز؛ نيزه باز او يو ځاينوم)،مره يي ياپاړوګر (مارګير)، ټلګری،چلګری يا کنيوال (ګليم باف)،له زړواوکمپېښو چارنومونو ګڼل کيږي؛ ګګر (آهنګر)،لولنګر او داسې ورته رغا ونې بياسپيناوی غواړي...؛د نويزونو په لړ کې: بنسټګر (بنياد ګرا؛ بنيا نګذار)، نوښتګر، پيلګريا پيلامګر (آغاز ګر)، نيوکګر (منتقد)،نيواکګر (اشغالګر)، بلو سګر (تجاوزګر)...؛

(-ګار) هم د (کار) همرېښه برېښي، له همدومره توپير سره چې (کار) تر ډېره، په تېره پښتو کې د يوه ازاد ګړ په توګه ترنګونه رامنځته کوي،لکه کښتکار،وستا کاريا پښ (آهنګر)،بدکار،پخليکار،سرکار خپلکار،جنايتکار، ياله (-ی) سره، لکه: ډېرکاری،ورا نکاری...؛له پارسۍ سره ګډ چې د روستاړي پرځای مختاړی لري، لکه:بېکار، همکار...؛ پښتو د(-ګار) يوازې يوه بېلګه وزګار (بېکار) لري او بېګار بياهم په دواړو اونورو افغاني ژبوکې دود درلودلی، پښتو (اګار بېګار) هم له يوڅه پراخوالي اوتوندوالي سره رامنځته کړی دی؛ پرهېزګار،روزګار،پروردیګار...؛

۸)-ګړی،له آره د (-ګر،-ګری،-ګرندی) همچارې پايله ده،بېلګې: ژرنده ګړی، وار ګړی (صاحب نوبت)،بانګېړی يا بانګي(چرګ)،اشرګړی يا اشرګری،منځګړی، يا درېيمګړی، ضامنګړی (تره کی)،زېريګړی (زېريګر،زېريګری، وراګړی (ورابانی يا وره يي)؛ نويزونه: يوګړی-ډېرګړی (مفرد-جمع)؛ زومګاړی (کسی که داماد را تاخانهٔ عروس همراهی ميکند) هم ورته پايله ده؛ ستاينوميزې بېلګې يې،لکه: نيمګړی،ځا نګړی...؛ (-ګرکی) هم ورته پايله ده، لکه په (مينه ګرکی) د مينه ناک او مينه وړي په مانا.

۹)-ګرندی، د پاسنيو دوه درو پايلو همچارې پايله، بېلګې: زېريګرندی)، ګوا ښګرندی، ګواښګر يا ګواښګری،تولګرندی يا ورمندګر (داور، حَکم)،اشرګر ندی، وېشګر ندی (قاسم)،زېريګرندی،دېوا لګرندی يادېوالغود (پرنده يی که با منقارش ديوار را سوراخ ميکند)،...؛تلوارګرندی ياتلواري (باعجله؛ تيزګام) بيا ستاينوم راځي؛

۱۰)-ګير،پارسي پورپايله ده او زياتره ستاينومونه رغوي،لکه:پرواګير(بااعتنا)، هواګير (خوښ خوشال)، بارګير(حيوان باری)،بادګير، برګير (زکام مواشی)؛ چار نوميزې بېلګې يې: څوګير (مترصد؛ کمين ګير)،سوالګير،داوه ګير(دعوه جلب، مدعی)؛ هواګير په دويمه يا مجازي مانا پر ستاينوم (خوشال،سوکال) اوړي،لکه د سبزعلي خان په سندره کې (زړه مې هواګير دی)...؛

۱۱)-مار،-ماره،يوازاد کړ ګړ (وهل) هندي آرې پايله ده چې له (کاموال) لوټمار (کلخکوب) لوښنوميز چار سره پوره اړخ لګوي اوپه دويم چار و مانا (غارتګر) بيا دومره نه،د همچارو پايلو په پرتله ښنده او ټينګار رانغاړي،لکه د ختګر-ختمار، بډيخور-بډيمار، کچنۍ- کچنيماره...؛ ټوليزې چارنوميزې بېلګې: بچيمار (حر يص) چې آره يې ښځينه بڼه بچيماره يا بلاربه ښځه ده چې له بيو لوژيکي اړتيا سره ډېرخو رې (حريصه) وي، بغريماره، کچنيماره يالکيماره (فا حشه)، جلۍ مار (دخترباز؛ زنکه باز)،چړچه مار يا چړ چه يی (لاأبالی،عياش و فحاش و بی بندو بار)،دوپړه مار، دبله مار... هم ورته کرکتر ونه دي، تبله مار يا دوکړه مار (طبله نواز)،بډيمار (رشوه خور)،خوړه مار(پرخور؛ رشوه خور)، ټپلمار (کراچيوان؛ زنبيل کش)، وستار (بنجارهٔ سيار)، پېښه مار (مقلد؛ ممثل، نما يشګر)، پښمار (دمزن آهنګر)،ازمار (مکار،حيله ګر)،سوټه مار ياکوتکمار،تيز مار، ډوزمار (ګوزک؛ لافوک)،کنځلمار، سندرمار (کاروان، عابد)،دوړه مار (دروغباف)،داړه مار يا شوکمار (رهزن)،ګوړ مار (ګُريز)،پيړمار (عصاره کش از نيشکر)، ډوډيمار (مهمان نواز)، جګړه مار (جنګ آفروز،جنګ سالار)،ونډيمار (قصاب)، لانجمار (دعوه جلب،نزاع آفرين) ، سوکمار (مشت زن، بوکسر)،جرګه مار،جرګتو ياجرګه يي...؛تريمار (ګرمی وحرارت شديد) چې بډ (ضد)يې تنکار(برودت يا سردی شد يد)راځي،)او داسې نورې بېلګې بيا اله ماله په چارنومونو کې نه راځي (وېيپو هنه ۳۰۳)؛



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۱۲)-وال، داپایله د ستانومیزې او ځیزنومیزې او بیا چارنومیزې پایلې په توګه پوره ډېرزېږې ده،په تېره د نویزونو په برخه کې. اړیکنوچارمیزې بېلګې: بنګړیوال (چوری فروش،جت)، ستایوال (خطیب؛ مداح)،انډیوال،)، پیمال وال (اهل پیشه)،هټیوال،کاروال یا کاروالا(ضد بیکار)،چاروال (فعال؛فعل معلوم)، پازوال (وظیفه دار،عهده دار؛ مسؤول)، روغه وال (بر قرار کنندۀ صلح)،جرګه وال،جرګه یي...،کډوال (خانه بدوش ؛مهاجر)،جوپه وال (کار وانی)،بدرګه وال، بدرګه یي...،څوکیوال (چوکید ار،پهره دار)،کوټوال،(سپا هی،سرمامور سابق)؛ نوې بېلګې: لیکوال،څېړنوال، ویناوال (سخنران)،، زد کړوال ( تعلیمیافته)،لوستوال یالوستونکی (با مطالعه)،ځمکوال،پانګوال، ویناوال، ګډونوال،برخوال، مینه وال، بنوال یا ملیار،مرییوال (برده دار)، بنسټوال یا بنسټګر (بنیانګذار)، کوټوال،زېرمه وال (تحو یلدار؛ دارای پس انداز دربانک) پوهنوال (اسوشیټید پرو فسور)،ښاروال،بندروال (رئیس امور بندری)،بریدوال (سرحدار)، درستیزوال، څارنوال،ډګروال،پاسوال، خبروال (محرر قا ضی)،ولسوال،وسلوال، روغتیاوال (سرطبیب یامسؤول امور صحی)...؛ لېوال(مشتاق،علاقمند) دلته یوه زړه بېلګه برېښي چې ښایي،د(لیل،لېیل)کړ نوم وي!

۱۳ )-والا، چې د ښتنولۍ او کاروکسب جاج رانغاړي، او تر (-وال) زیات هندي رنګ لري او په (و)ګړنۍ پارسۍ کې هم ډېر دود لري، بېلګې: کوروالا(خانه والا؛ زن والا)،بټۍ والا (داشبان، خشت پز)،خروالا (خروالا، خرکار)،ترکاري والا (ترکا ری والا، ترکاری فروش)، انګوروالا(انګوروالا، انګورفروش)،هټۍ والا،دوکان والا چې ادبي پښتو یې هټیوال او پارسي هغه (دکاندار) راځي؛ خو بیاهم پښتو بېلګې ترې ډېرې دي او ګړنۍ او لیکنۍ دواړو ډولو کې ارت و بیرت دود لري... همداراز (رښتین ۷۳)؛

۱۴)-وان ،چې له ادبي پارسي (-بان) همرېښه انډول ګڼل کېږي،بېلګې: بندیوان (زندانی؛زندانبان)،باغوان (فروشندۀ میوه جات)،د پارسي (باغبان و باغدار) پښتو انډول (بڼوال) دی،پالېزوان،ګاډیوان (ګادیوان)،جاله وان،دروازه وان (در بان)، بټیوان یا بټیارۍ دبټ (د نینوکړایي والا)- بټۍ که څه هم د پایلې له مخې یو کوشیننوم دی، خو دجاج له پلوه له بټ څخه لوی دی، خېلوان (خویشاوند) هم اړیکنوم راځي...؛ګوروان (ګله بان، پاده وان)، د رښتین پر اند له آره (ګورموان) وو او راروسته ترې (-م-)غورځېدلی دی؛

۱۵)- لنډ-و (u,wu-)،بېلګې: څارو یاڅوګری (مترصد؛ کمین ګیر)، بګتو (بګتۍ جوړوونکی او بولونکی) ، شپېلندو (له -ن ډېرن سره): د شپېلۍ مار (نینواز) هما نیز،لاپو،کړتو (یاوه ګو)،لاپو،باټو،سادو،ساندو (سانده بول)،برماڼو یا بڼ ماڼو (وحشی، وحشت آور)،...؛کړاوو (مشق کننده؛جمناستیک والا) له دوه ځپیز(کړ او) چورلیځ سره درې ځپیز ګړاوو (زجر دهنده) له ←(-اوو ) پایلې سر ه تړاو لري؛

۱۶)- اوو(āwÚ-) له ښندې سره، بېلګې: ګړاوو (زجردهنده)،جرګاوو یا جرګه مار، مرکاوویامرکچي (مصاحبه کننده)،نکلاوو، ګړاوو یا ګپاوو یا ګړباوو،خرڅاوو (خراج؛فرو شنده)،څکاوو (جاذب؛ تمباکو کش)،لړاوو (جنګره)،جګړاوو یاجګړه مار،خنداوو (پرخنده)،دوړاوو (کذاب؛یاوه سرا؛سبزي پختۀ بی روغن)،غوړاوو ،غو ړه مال، یاچپړوس)،پېښاوو،چپاوو د(چپاوي،تالانګر) ښندیز ځبل،چړ اوو (قتال،سفاک؛ پنډاوو بیا درچرګ ستاینوم دی...(وییپوهنه ۳/۶)

۱۷)-ازې (- āzay)،بېلګې: استازی د کمپېښي او ناکره بل ګړدودي ځبل (استو ازی) تر څنګ له (پیام رسان، پیغمبر،رسول؛ نماینده) ماناوو سره؛ (یوازې-یوا ځې-بیا زې-بیاځې) بیا ستاینوم او (متیازې- میتیازې) له یوڅه غبرونج او چارو نج سره سره ورته رغاونې برېښي!

۱۸)-یال،-یالی زاړه او نوي چارنومونه او هممهاله ستاینومونه رامنځته کړي: پق خبریال د (سخنور،زبان آور) او خبریالی د(نطاق؛ خبرګوی یامخبر،عیبګوی) په ماناووراخوندي کړی او نن سبا د(راپورتر)، په مانا دی،پالیال (وفادار)،مرستیال (معاون به اصطلاح اداری)، غوټیالی (حمله آور)، ګټیالی (یوکورنی غړی چې کار وګټه لري)، غوریالی _ ɣwərryāláy _(لافوک و لطیفه ګو) اوله اوړد-و سره غوریا لی (جاغوردار)،ځونډیالی (پوپکدار؛ پوپکساز)،پامیالی (متوجه؛ هوشیار؛ صا حب نظر)،غړیالی← ړوب (عضلا تی؛ تنومند)،ربړیالی (رنجبر،کوشا، کارکشته) ...؛ پرلپسې ډېرېدونکي چار-او ستاینومیز نویزونه او بیا لنډنومو نه زیاتره د (خبریال) پر بېلګه بې (-ی) رغول کېږي او وګړني یا پخوارغېد لي هم همداسې رالنډوي،لکه:

نومیال،ننګیال،فرهنګیال،دودیال،زمریال،توریال، بریال، زغر یال (شخص،یا عرادۀ زره دار و زره پوش)،برمیال،پټیال،هڅیال، رزمیال (رز منده) ،... ؛ د ادبي بېلګو(ننګیالی، فرهنګیالی) نتیالۍ) مخینه یې تر ستر خو شاله پرشاځي ؛چاپېریال (محیط) له ورته پایلې سره بیا یو بېلښتي ځیزنوم را منځته شوی دی

۱۹)-لي،-لُو، بېلګې: کوټوالي، سپايي (سپاهی)، چلي (فریبکار)،سپرلي (سواری هروسیلۀ ترانسپورت عامۀ سافربری؛فعل سواری)، سپرلو (مانند سپرلي؛ سوار اسپ، بویژه نیزه باز)...؛

۲۰)-انی،-لانی،بېلګې؛ سیلانی (ګشتګر، ګردشګر،جهانګرد ؛ سیالبین؛ تماشاچی منظره و یاحادثه )،کرلانی (کشاورز)،بل ځبل (کرلانی) یې (یکی از سلالۀ پنجګانۀ پشتونان که پیشۀ کشاورزی به آن نسبت داده می شود)...؛

۲۱)-تو(tu-)،داپایله هم پر خپل وار د چا- او ستاینوم تر منځ ګډه ده، بېلګې: جرګه تو یا جرګه یي،برجستو یا بېلرغو (فساد پیشه)، چمتو (حاضر وآماده)، نامتو یانوماند (مشهور، شهیر، نامور) ...؛

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۲۲)- تي،بېلگې:روژه تي (روزه دار)،بوزه تي یاکوژه تي ( ناروزه دار،هردو مشتقا تی قیاسی از روی واژۀ قبل)،جرګه تي یاجرګه تو،پایلاتي (فسادپیشه)،بنګتي یا بنګي (معتاد به بنگ کشی...)؛ انګړاتي بیا د پټپټاني په مانا ورته پایله برېښي، خو له څېزنومیز چار سره ؛
۲۳)- بانی،بېلگې: وربانی (دربان)، ورابانی ( عضوی از جمعیتی که عروس تا خانۀ داماد همراهي میکند)، این جمعیت را (ورا و وره بیز) گویند،څرخبانی (بازیگر، رقاص)،ګوډبانی (دستیار سفر کننده یا گردشگر)،اشربانی،اشرګری یا اشرګرندی (عضوی کار حشر)،کټباڼ-ی (بافندۀ چارپایی) چې هممهاله د(بڼل) یو کړنوم هم بلل کېدای شي،غوبیانی هم د یو بوټي نوم دی؛غوباړی (خرمگس گاو و دیگر مواشی) کېدای شي، هم له آره (غوبانی) اوسي!
۲۴)-څاڼ،څانی، -څاندی ، بېلګې: بورڅانی یا مېوه څانی(میوه چین)،وړیڅانی یاوړیڅاندی (خوشه چین)، یا یې هممانیز وړیچن؛ نوي پرتلویز ونه (قیاسي) رغا و نې یې: انګورڅانی، پومبه څانی، ګلڅانی...؛د (-چن) تر څنګ(-چاڼ) یا (-چوڼ ) هم ورته پایله برېښي، د خوشال په شعرکې (غوره چوڼ) راغلی چې رارو سته پر (غورچاڼ (منتخب، ګزینه، ګزیده) راړول شوی، لکه د احمدشاه بابا (شعري غورچاڼ) او داسې نور.
۲۵) -من-د(-man-d)،زړې بېلګې: دښمن، میرڅمن، واکمن (شاه)...؛ نوې، لکه پوځي-پولیسي نوموني: بریدمن، ډګرمن، ساتنمن،څارمن؛ واکمن په نوې مانا (باصلاحیت،اتاریټي)،کارمن-د (مامور)، هنرمند...؛ (من) له امیر کروړه تر ګګیا نې د یوه خپلواک ګړ یا ویي په توګه هم کارول شوی دی:
-غشی د من مې ځي برېښنا پر میرڅمنو باندې...
- تر اول لا په منونو پرې افزون شه -چې صحت د عشق له درده زما من(!) غوښت
۲۶)-ن (-an)، بېلګې: ژباړن (ترجمان، مترجم)، قضایي: ګرویږن (پوښتونی؛ مستنطق)، پوځي-پولیسي: تورن، جګړن، څارن؛درغلن (جعلکار،متقلب)، درو هن (ټګمار)، فریبکار، چلباز)، ډونګن،یا زونګن ()زونګ زون کننده،دوړن (درو غباف،لافزن،ګلیم باف)؛ شډلي بېلګې چې د استاد رښتین په دې بېځایه ورمند (-ن) له آره همدا راز (ستاینومیزې-چارنومیزې) رغاوني کوي: ګړینګن، تیزن، پسکن، ډرن، غرتن...؛
۲۷)-ری (-ray)، بېلګې: لوټېری (لوټمار)،جنګېری (جنګره) (رښتین۸۲)، غولټېری (د سپي لپاره: مزار دره)...؛
۲۸)-ړی (-ṛay)،بېلګې:خونړی ()، خونکار، سفاک)،چنګړی (شخص بد معامله و جنجالی)، چوپړی یاچپړاسي...؛
۲۹)- اوڼ (-āwáṇ)، (غورځاوڼ (تره خېل،یوسفزي) د (کوټه والو (غورځلاوو) د
( مردی باجهش و جنبش؛یکی از اعضای و فعالین حزبی یا سازمانی)، یا د استاد رښتین په خبره شډلې بېلګې: متراوڼ (متیازن)، غولاوڼ (غولن)، تیزاوڼ،ګوزاوڼ یاچونګاوڼ، ډرناوڼ،پسکاوڼ...؛ښځینه پسکاوڼه یا غونځه (درخت دولانه،شبیه شبیه درخت آلوبالو)...؛
۳۰)-ار(-ār)،بېلګې: پوزیار (بوریاباف) له کره ځېل (پوزی)،نه له (پیزی) ځېله چمیار د (موچي) لکه مالیار هندي آره لري،وستار د (تاجر) په مانا له وسته (بسته او متاع تجارتی) څخه دغه رغېدلی بېلښتي چارنوم له کمپیښو نړه پښتو وییونو څخه ګڼلای شو ، دوتنیار (صحاف) پشتی ساز) هم ښایي ورته چارنومیز بېلنګ اوسي او له (دوتنه) بنسټ څخه رامنځته شوی او نن سبایې ما او استاد صمیم د (فا یل، دوسیه) په ماناومانا ونجویزونه هم رادود کړي دي، بټیار د بټیوان اوهم د خبنتوبټۍ والا د همماڼیزونو په توګه له هندي آرې سره سره را خپل شوی، ویښیارهم کېدای شي، د پارسي (هوشیار) پښتو انډول وګرځي، (پوهنیار، څېړ نیار) نویزونه هم همداسې درواخله؛ زما ګړویزی (لړم یار (مادر کیکان) بیا یوځرګند ترښتي څېزنوم دی!
۳۱)-ځن یا-زن له پارسي (-زن) څخه راخپله شوې پایله له دې بېلګو سره: لامبوځن-زن، ښکارځن، تورځن، نښان زن...؛
۳۲)-ون (-un)، بېلګې: پق مرستون د (مرستونی) هممانیز، خو پاسلون ( پهره دار، محافظ) د ( پاسلونی (منت ګذار) همماڼیز نه راځي...؛
۳۳)-چي، له کوشیننوم، او لوښنوم سره شریکه پایله ده او آره یې د اوېستا هنر یانچو (هنرمند،ماهر) په لاسوندآریاني او ښایي،تورکي هم راڅخه پورکړې او سي،نه سرچپه؛ زموږ بېلګې: بګاښچي یابګاښي(میانجی،صلحجو)،مرکچي، توپچي،جارچي،غاوچي یا غاوی(دادخواه)، باورچي(قاصد)چې پېښوریان دپورویي په توګه د(پخلیکار) په مانا کاروي،تورمچي، ډولچي، سورنچي، او(تواچي) هم پارسي (طبقچي) ابسي!
له-ی سره، لکه: مرغېچی (نګهبان کشت وراننده پرندګان)، یا لوښنومونه، لکه: مرغچی (ګلوبند مروارید)،مرغچچی یا کونجکه (خرمهره)؛ یاله لنډې-ي سره چلمچي (-لګن با آفتابه به حیث ظرف دستشویی)؛ موچي هم کېدای شي، یو زوړ بېلښتي چارنوم اوسي!
(۳۴) -ور، پایله د ستاینومونو په لړ کې یو نیم چارنومیز رنګ راخپلوي یا رغوي، لکه: ژوبلور (جنګ آور،سرباز←پخ۴۱)، باټور لافزن)،غوټور یا غو ټندوی (شناور، غواص)، زورور،ژبور، خولور او داسې نور ستاینومونه چار نومیزه ځانګړنه ترلاسه کولای شي، که: خبټور، نسور، ګېډور(پرخور)...؛ همدارازشډل چارنومونه...(وییپوهنه ۳۱۱-۳۱۰)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهاند دوکتورم.ا. زیار
اکسفورډ-۲۶ ډېسېمبر۱۸


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ